# محسن

## د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

# ۹۶

# د «علق» سورت تفسير

په پښتو

ژباړه او څېړنه:

احمد حسين «عنايت»

د علق سورت تشریح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسین عنایت

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوراند او لورین الله په نامه

## سورة العلق

## د علق سورت (۹۶)

د «علق» سورت مکي دی (۱۹) آیتونه یوه رکوع لري په تلاوت کې (۹۶) په نزول کې همدا سورت ړومبی سورت دی چې نازل شوی دی

### له مخکیني سورت سره اړیکه او د سورت د مضمونونو محور:

د تلاوت په لړ کې له دې څخه مخکینی سورت «تین » دی، ددې سورت اړیکه او ورته والی له مخکیني سره د دواړو سورتونو دمضمونونو په محورونو کې ښه توضیح کېدی شي یعنې د دواړو سورتونو د مضمونونو محورونه یو تر بله اړیکه لري چې په لاندې توګه یې څېړو.

د«تین» سورت اصلي محور لکه څنګه چې وویل شول،د انسان د صعود او سقوط یا د ارتقاء او انحطاط [لوړتیا او ځوړتیا] د زمینو څرګندېدل ول چې په بهترین تقویم او ظرفیت کې او په بشپړترین ترکیب کې د یوه ځانګړي استعداد له پنځېدو سره د لوړتیا او قیام لپاره د هبوط او مخ په ښکته او ځوړ جاذبې ته سپارل شوی دی، چې د دې جاذبې د لور او جهت پر خلاف له حرکت سره او هسک ته د پورته کېدو د سختیو او ستونزو له ګاللو سره ځان جوړونه وکړي او خپلې اصلي پیژندنې او هویت ته ورسیږي. په هغې سورت کې یې هم د «ایمان او صالح عمل» دوه شرطونه د طناب د داسې دوو رسیو په توګه چې تکړه غرګرځی باید ترې د پورته کېدو لپاره استفاده وکړي معرفي کړي ول، خو د ژغورنې او نجات له توکو او وسیلو څخه خبرتیا او پیژندنه د قضیې یو اړخ دی، خو دې توکو ته لاسرسی او له هغوی څخه د استفادې او کارولو پوهه، بل یو ډېر مهم اړخ دی چې لومړنی لازم شرط د عمل په بهیر کې کفایت او بشپړتیا ته رسوي یعنې پورتنیو توکو «ایمان او صالح عمل» ته لاسرسی او عمل کافي شرط دی.

هاغه چې د«علق»په سورت کې ښوول کیږي، همدغه د نجات او ژغورنې وسیلې او توکي او له هغو څخه د استفادې او ګټې د نحوې او طریقې توجیه او تګلار ده. که د تین په سورت کې ایمان او صالح عمل ته د نجات د وسیلې او د پورته کېدو د طناب په توګه اشاره کوي، په دې سورت کې دا «حبل» [رسۍ] په لاس کې ورکوي [د وحی په توسه د کتاب نزول] او پر هغه د «اعتصام» او [چنګ وهلو] طریقه او روش چې «علم او قلم»، پوهنه او لیکانې ورته اړین دي ور زده کوي. هلته فرمایي:«لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ» او دلته:«خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ... عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ». یعنې شونې ده چې له علم، آګاهۍ او پوهې سره د نفساني قیام او لوړتیاو زمینو ته تحقق او رښتینوالی ورکړل شي او د یو داسې مخلوق وجودي کمال او ودې ته له قلم سره تداوم وروبښي چې له علق څخه پنځول شوی دی.

دا تول د « ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ » په مسیر او لارلیک کې تلپاتې او دائمي سقوط او غورځېدا ته پر

آګاهۍ او پوهه اړين دي. او که نه د بهير پر خلاف حرکت ته د نه اړتيا له احساس سره، چې طبعاً دا سخت، ستونزمن او خطرناک چار دی، دا په بېره د غورځېدا د احساس د نه اړتيا انګېرنه پخپله، انسان طغيان او سرغړونې ته راکاږي «كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى. أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَى» نه يوازې پخپله ټيټېږي او انحطاط ته کشول کيږي، بلکې نور بندګان هم چې د «هدايت» سره سم يې د «غايت آمال العارفين» څوکې ته په سترګو نېولو د «تقوی» ګام اوچت کړی دی، منع کوي: «أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى عَبْدًا إِذَا صَلَّى أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ عَلَى الْهُدَى أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَى ».

پوهېږو چې د جنت له مقام او مرتبې څخه تر هبوط وروسته د آدم او آدميانو لپاره، الهي جوار او څنګ ته د بېرته ستنېدو او رجوع او د صعود او اوچتېدو لاره، له هدايت [کتاب او نبوت] څخه تبعيت او پليونې معرفي شوې ده: *قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ـ بقره ۳۸ ـ ورته مو ووېل له هاغه ټول راکوز شئ، نو هر مهال چې زما له لور تاسو ته کوم هدايت راغی، نو هر څوک چې له ما پيروي او پليونې وکړي، ډار او غم پر هغوی نشته.

*قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَى ـ طه ۱۲۳ ـ و مو ويل تاسو دواړه راټيټ شئ [په داسې حال کې چې] ځينې له تاسو له ځينو نورو سره دښمني کوئ. نو هر کله چې زما له لور تاسو ته کوم هدايت راغی، نو نه لار ورکې کيږئ او نه محروم.

د تين په سورت کې دې حقيقت ته د انسان د هبوط او د هغه د استعداد او «تکويني» تقويم له اړخه، لومړني مقام ته د هغه د صعود او پورته کېدو لپاره کتنه او نظر کوي او د علق په سورت کې د «هدايت» او د هغه د «تشريعي» استعداد له اړخه د عِلم او قلم [پوهې او لېکانې] څخه په استفاده کې له کتاب او له پيغمبر څخه د پيروۍ او پليونۍ لپاره کتنه کوي په داسې حال کې چې هغوی ته توسل او تمسک، په داسې غورځېدنځای کې له وېرې او خپګان او ګمراهۍ څخه د امنيت لامل کيږي.

## د اعلی له سورت سره پيوند او تړاو:

څرنګه چې په قرآن کې (د اعلی په سورت کې ) د «رب» اسم [نوم] يوازې يو ځل د «اعلی» له صفت سره ترکيب شوی دی او تصادفاً د هغه د ظهور او څرګندېدو زمينه (لکه د علق د سورت په څېر) د «خلقت» په بهير کې ښوول شوې ده، د علق سورت د مفاهيمو د ژورې پوهېدنې لپاره ښايي دغه دوه سورتونه مقايسه، مقابله او پرتله کړو. او د هېښتيا وړ دا چې چې له ډېرو اړخونو څخه (چې تر لاندې يې خط راکښل شوی) لکه د اسم، رب، خلقت، هدايت، «قرائت»، علم، صلوة ..... په مفهومونه کې دا دوه سورتونه يو تر بله ورته والی لري او يو بل تفسيروي:

(علق) = اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ، اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ.

(اعلی) = سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى، الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّى، وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَى،... سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسَى.

(علق) = عَبْدًا إِذَا صَلَّى، أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ عَلَى الْهُدَى .... أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَى.

(اعلی) = وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَى .... إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا يَخْفَى .... وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى.

## سريزه او اړيني خبرې:

د الله په توفيق او پېرزوينه هغه سورت پيل کوو چې پنځه لومړني آيتونه يې، پر پيغمبر (ص) د نازل شوو آيتونو له جملې څخه تر ټولو لومړني آيتونه دي. له دې لامله ډېر اهميت لري چې ووينو لومړنۍ خبره چې محبوب خپل حبيب ته ويلې او همدا راز لومړنی پيغام چې بشريت ته يې راوړی څه دی. دا مسئله ډېره ټاکونکې او مهمه ده چې قرآن په کومه خبره پيل شوی دی او ولې يې دې پيغام ته لومړيتوب ورکړی دی کابو ټول مفسران، پر پيغمبر لومړني وحی شوي آيتونه د همدې سورت لومړني پنځه آيتونه ګڼي چې ورپسې نور آيتونه يې د بعثت په دريم کال نازل شوي دي.

د هاغو محاسباتو اوشمېرنو پر بنسټ چې رشاد خليفه [د امريکا اوسېدونکي مصري انجنير] ـ کابو پنځه دېرش کاله مخکې ـ سرته ورسولې، يو رياضيکي او شميريز کوډ د علق په سورت کې ـ او البته په ټول قرآن کې ـ شتون لري چې د هېښتيا وړ دی لومړی دا چې دا سورت نولس آيتونه لري. دويم؛ که د قرآن له پای څخه وشمېرو، نولسم سورت دی. دريم؛ د علق سورت شپږ نويم سورت دی، نو پر دې بنا ۹۵ سورتونه تر دې مخکې دي او ۹۵ د ۱۹ مضرب دی يعنې د ۱۹ د ضرب حاصل په پنځو کې. څلورم؛ پنځه لومړني آيتونه چې د قرآن د نزول د پيل آيتونه دي پر ۱۹ کليمو مشتمل دي. پنځم؛ د دې سورت د پيل پنځه آيتونه ۷۶ توري لري چې بيا هم د ۱۹ عدد مضرب دی (۴×۱۹). او شپږم؛ ټول سورت له ۳۰۴ تورو څخه تشکيل شوی دی چې بيا هم د شپاړسو د ضرب حاصل په نولسو کې دی (۱۶×۱۹). يعنې دا سورت په ټوله کې، د آيتونو له شمېر څخه تر کليمو او له کليمو څخه تر تورو او حتا واټن يې له مخکينيو او وروستنيو سورتونو سره، ټول د ۱۹ عدد يو مضرب دی. نو پر دې بنا د شمېر او عددي ليده، دا سورت ډېرې دقيقې، ژورې او هېښوونکې اړيکې څرګندوي.

د علق سورت د «ولوله» له کلېمې سره پيل کيږي: **اقْرَأْ**. دا کليمه لومړنۍ خبره ده چې الله تعالی خپل پيغمبر ته ويلې ده: «ولوله». دا ددغه آسماني کتاب ړومبنی او تر ټولو مهم پيغام دی. مګر پيغمبر اکرم خو د لوستلو سواد نه درلود، چې يو څيز بايد ولولي؟ ځينو ويلي دي چې يوه ليکنه يې پيغمبر ته څرګنده کړې او پيغمبر ورته ويلي دي زه لوستل نه شم کولی، بيا ورته جبرئيل ويلي ولوله او هغه بيا ځواب ورکړی په لوستلو نه پوهېږم او بيا يوې پربښتي هغه تر فشار لاندې نيولی او مثلاً يو ډول القا يې کړې او بيا حضرت توانېدلی چې ولولي. ښه، نو څه څيز يې لوستی؟ وايي قرآن يې لوستی. خو تردې مهال خو قرآن نازل شوی نه وو، نو څرنګه يې هغه لوستلی؟

وايي د «حمد» سورت [«فاتحه»] يې حضرت ته ښکاره کړې او ورته ويلي يې دي چې هغه ولولي. خو لومړی داچې دا سورت ډېر وروسته راغلی دی؛ دويم دا چې ولې له هغه وروسته پيغمبر بيا لوستل هير کړي دي؟

موږ پوهېږو چې هاغه حضرت د خپل ژوند تر پايه هيڅ يوه ليکنه نه شوه کولی چې ولولي. اشتباه له همدې ځايه راپورته شوې ده چې انګېرلي يې دي چې قرائت يوازې د لېکل شوي متن لوستل دي چې د سواد له درلودلو پرته شونی نه دی. خو «قَرْء» او «قرائت» په عربي ژبه کې د تأليف او د اجزاؤ پيوندولو او د

یو څیز د منځته راتګ په معنا دی. لکه د تورو ترکیب او د کلیمې رامنځته کېدل. لکه «الف» او «ب» له یو بل سره ترکیبوو او «اب» لغت ترې جوړوو چې پر یوې معنا دلالت کوي. دغه چار ته «قرائت» وایي. د تورو یو ځای کول چې هر یو توری په ځانله توګه معنا نه لري خو چې له یو بل سره یو ځای شي له یو ځای کېدو سره یې یوه معنا، افاده کوي. اوس نو نور څیزونه هم کېدای شي همدا ډول وي. د بېلګې په توګه د اوبو څاڅکي چې له یو بل سره یو ځای کیږي او یو لوښی ډکوي، دې ته هم په عربي ژبه کې «قرائت» وایي. قرآن د ښځو له طلاق وروسته د واده په اړه وایي چې باید تر دریو [«قرائت»ونو] پورې منتظر پاتې شي، یا درې «قَرء»- چې جمع یې «قُروء»- کیږي [کابو] درې مباشتې چې تېرې شي نو بیا کولی شي بل واده وکړي یعنې تر دربو پاکیو پورې دې درنګ وکړي او تم شي: [... ثَلَاثَة قُرُوءٍ ...بقره ۲۲۸ ] دا هم په واقعیت کې هماغه دی چې ومو ویل.

دا جهان هم، چې «د تکوین کتاب» ورته ویل کیږي، د یو «متن» په توګه ګڼل کیږي، چې خپله ځانګړې الفبا لري چې شونې ده هغه ولوستل شي. نو، لکه څنګه چې یو څوک سواد ونلري، نه شي کولی د یوې ژبې الفبا او کلیمې ولولي او له لیکنې څخه یې په څه نه پوهیږي، یو څوک هم که د هستۍ د جهان او طبیعت کلیمې او د طبیعت کتاب ونشي کولی «ولولي»، نه پوهیږي چې دا جهان چې په هغې کې اوسیږي دده لپاره څه پیغام لري. ددې جهان له منځه ورته خدای نه راوځي او په دې «متن» کې نه شي کولی د ربّ نوم ولولي. دا ډول سړی کېدی شي فیلسوف هم وي، د پوهنتون استاد وي، لسګونه کتابونه یې لیکلي وي، خو د جهان د فهم او پوهې او «لوستلو» ځواک او استعداد ونلري. هغه له یو بل څخه یو لړ بېلې نښېویني؛ یو لړ پدېدې او ښکارندې چې هیڅ پیغام ورته نه لري. نو پر دې بنا، لوستل یوازې سواد درلودل نه دي، سواد د لوستلو له لارو څخه یوه ده. اتفاقاً البرټ انشټین چې د ماډرن فزیک مؤسس ګڼل کیږي په خپل لومړني کتاب [ (د فزیک وده)(The Evolution of Physics)] [چې د لئوپولډ اینفلډ سره یې په ګډه لیکلی] کې یې هم طبیعت او جهان د یو کتاب په توګه مطرح کړی دی.

مقصد او موخه د پښتو، فارسي، فرانسوي، انګلیسي او داسې نورو ژبو زده کړه نه ده. په خاصه توګه په تېرو وختونو کې چې ډېریو وګړو اصلاً سواد نه درلود او دا خو په اوسنۍ نړۍ کې دی چې د لوستلو او لیکلو سواد اجباري او عمومي شوی دی.

نو دا څه څیز دی چې پیغمبر ته ویل کیږي «ولوله»؟ د «اعلی» په سورت کې پیغمبر اکرم ته وایي: [سَنُقْرِئُكَ... ډېر ژر به تا لوستونکی کړو،...فَلَا تَنسَى. نو مه هیروه. ـ اعلی ۶ ـ]په دې ترتیب پیغمبر پر لوستلو وتوانید، بلکې ډېر توانا شو، په داسې حال کې چې کوم لیک یې، حتا خپل نوم یې هم د عمر تر پایه، نه شو لوستلی. خو د لوستلو داسې ځواک یې پیدا کړ چې تر ټولو ځواکمن لوستونکی شو، او وتوانېد چې د هستۍ کتاب ولولي. او همدا «لوستل» دي چې کله هم قرآن د «لېدلو» له تعبیر سره ترې یادونه کړې ده: [«أَفَتُمَارُونَهُ عَلَى مَا يَرَى.» آیا په هاغه څه کې چې هغه یې ویني له هغه سره بحث کوئ؟! وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَه أُخْرَى. هغه جبرئیل بل ځل لېدلی دی. (نجم ۱۳،۱۲)] [«لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى.» هغه د خپل پالونکي رب ډېرې سترې نښې لېدلي دي. نو، ځینې وختونه د قضییو پوهه یوازې د لېدلو له لارې شونې ده. (نجم ۱۸)].

یا د حضرت ابراهیم په اړه وایي چې موږ د آسمانونو او ځمکې ملکوت هغه ته وروښوول او څرګند کړل: وَكَذَلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ...[انعام ۷۵] اما دا نه چې ملکوت یې د سر د سترګو په توسه لیدلي وي. یا وایي خلک د تېرو تمدنونو کنډرېویني، خو له دې حالت سره سره هاغه څه چې باید وویني نه ویني او عبرت نه اخلي. یعنې سره له دې چې ددې خلکو ظاهري سترګې ړندې نه دي بیا هم نه ویني. أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ ....، آیا په ځمکه کې سیر او ننداري ته نه دي تللي چې د تېرو خلکو نښې او آثار وویني؟ د همدغو ظاهر وینو خلکو په اړه دی چې وایي ویني خو څه نه ویني. عیب په سترګو کې نه دی، سترګې ویني، خو زړونه ړانده او ناویني دي: ... وَلَكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ.[حج ۴۶] نو، بل ډول «لیدنې» هم شته چې یوازې د بصیرت د سترګو د پرانیستلو یا د زړه په سترګو شونې دي. یوازې د زړه په توسه شونی دی چې حقیقتونه وویني.

هوکې، پیغمبر اکرم ته وایي ولوله. او مفهوم یې په واقعیت کې دادی چې «پوه شه». د طبیعت پدیدې او ښکارندې ولوله او پوه شه چې دا ټول یو خالق لري. نو، سمدم لکه څنګه چې کتاب لولې، د طبیعت کتاب هم شونی دی چې ویې لوستلی شې. په کتاب کې، کلیمې یو د بل تر څنګه ځای پر ځای شوي او یو له بل سره ترکیبېږي او جملې جوړوي، جملې او عبارتونه د کتاب برخې او څپرکي رامنځته کوي او کتاب د لیکونکي پیغام له ځان سره لري او غواړي هغه ولېږدوي؛ په همدغه څېر، د طبیعت په کتاب کې هم، چې د هغه په پدیدو او ښکارندو لېکل شوی دی، شوني ده چې وتوانېږې، نظر وکړې او پوه شې چې د هغه پنځوونکی او خالق، یعنې الله تعالی، څه پیغام زموږ لپاره لري.

---

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ﴿۱﴾**

ولوله[(۱)] د خپل پالونکي رب په نامه، هغه چې [هر څه یې شته کړل او ] و یې پنځول

**خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ﴿۲﴾**

انسان یې له علق[(۲)] [ځوړندې نطفې] پیدا کړ.

**اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ﴿۳﴾**

ولوله چې ستا پالونکی رب[تر ټولو] ډېر کریم[او عزتمن]دی.[(۳)]

**الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ﴿۴﴾**

هغه [پالونکی] چې د قلم[(۴)][د کارونې]په توسه یې ښوونه وکړه،

**عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴿۵﴾**

انسان ته یې هغه څه وروښوول، چې هیڅ پرې نه پوهېده.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ
اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ﴿۱﴾ خَلَقَ
الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴿۲﴾ اقْرَأْ وَ رَبُّكَ
الْأَكْرَمُ ﴿۳﴾ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴿۴﴾
عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿۵﴾ كَلَّا إِنَّ
الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى ﴿۶﴾ أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَى
﴿۷﴾ إِنَّ إِلَى رَبِّكَ الرُّجْعَى ﴿۸﴾
أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى ﴿۹﴾ عَبْدًا إِذَا صَلَّى
﴿۱۰﴾ أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ عَلَى الْهُدَى
﴿۱۱﴾ أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَى ﴿۱۲﴾ أَرَأَيْتَ
إِنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّى ﴿۱۳﴾ أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ
اللَّهَ يَرَى ﴿۱۴﴾ كَلَّا لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ
لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ﴿۱۵﴾ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ
خَاطِئَةٍ ﴿۱۶﴾ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ﴿۱۷﴾
سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴿۱۸﴾ كَلَّا لَا تُطِعْهُ
وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ﴿۱۹﴾

دا سورت لکه څنګه چې مخکې مو وویل: د روایتونو له مخې ویل کیږي پر پیغمبر اکرم (ص) له نازل شوو سورتونو څخه تر ټولو لومړنی سورت دی، البته دلته یوې خبرې ته اشاره کول اړین دي چې ددې سورت یوازې لومړني پنځه آیتونه د حرا په غار [سمڅه] کې د لومړنی وحی په ترڅ کې پر پیغمبر اکرم نازل شوي دي او ورپسې نور آیتونه یې بیا وروسته نازل شوي دي او د پیغبر د فرمان پر بنسټ له لومړنیو پنځه آیتونو وروسته په ترتیب په دې سورت کې ځای پر ځای شوي دي دا هم د یادولو وړ ده چې د قرآن ځېنې سورتونه یو ځای ټول په یو ځل نازل شوي دي او ځینې نور یې په مختلفو مهالونو کې په وقفو وقفو نازل شوي او د پیغمبر د فرمان له مخې د کاتبانو په توسه د اوسنیو سورتونو په بڼه ترتیب او ځای پر ځای شوي او حفظ شوي دي چې د هرسورت د ړومبنیو آیتونو د نزول پر اساس، د هماغه سورت نزول ګڼل کیږي. چې البته د سورتونو د تلاوت د ګڼې ترتیب د نزول له ترتیب څخه جلا دی، نو ځکه دې سورت ته د همدې پنځو لومړنیو آیتونو د نزول پر اساس دنزول له مخې د ګڼلو لومړنی مقام حاصل دی. او لومړنۍ وحی د «اقراء» [ولوله] له فرمان سره پیل کیږي، په داسې حال کې چې هغه حضرت، نه تر دې مخکې په لوستلو پوهېده او نه له دې تجربې، او د وحی د نور له ځلېدو وروسته یې په نورو مرتبو او پړاوونو کې، د لوستلو او لیکلو سواد پیدا کړی دی او نه کوم چا د داسې یوې سابقې څرک ورکړی دی.

نو پر دې بنا داسې نه بریښي چې دلته له لوستلو څخه موخه، هماغه د تورو او کلیمو متعارف لوستل، له کومې لوحې یا مشخصې صفحې څخه وي. او اصولاً سره له دې چې دا راز لوستل انسانانو ته اختصاص او عمومیت لري، خو د لیکونکي او انشاء کوونکي له مقصد څخه د پوهېدلو او اطلاع موندلو او د حقیقتونو د درک لپاره دا یوازینۍ لار نه ده، بلکې نورې لارې هم شته او له نورو ناپېژندل شوو مجراو څخه د ذهن په صفحه کې نقش کیږي. لکه څنګه چې په خوب کې هم د انځورونو لیدل او د غږونو اورېدل، په یو بل ډول، پرته له دې چې د سترګو او غوږونو له مجرا تېرشوي وي په ذهن کې نقش کیږي.

پر هاغه بنسټ چې قرآن یې توضیح کوي د وحی آهنګ، د پیغمبر پر غوږ نه، بلکې د هغه پر قلب او فوأد انګازه وکړه او د قلب په توسه «قرائت» هم بل ډول قرائت دی چې خپلې ځانګړې قاعدې او طریقې لري.
[قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ...(بقره ۹۷) ـ ووایه: هر څوک چې د جبرائیل دښمن دی، نو [پوه دې شي] هغه دا [قرآن] ستا پر قلب [زړه] نازل کړی دی....

[نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ. عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ. (شعراء ۱۹۳-۱۹۴) ـ دا [قرآن] روح الامين ستا پر زړه[قلب] نازل کړ چې ته له ډار [انذار] ورکوونکو څخه اوسې].

الله تعالی دانسان لپاره، له خارجي نړۍ سره د اړيکي او له حقيقتونو څخه د آګاه کېدلو او د ربوبي آيتونو د پوهېدلو لپاره د پېژندنې درې وسېلې [سمع، بصر او فوأد] ګومارلې اومقررې کړې دي. «فوأد» چې له قلب [زړه] څخه يو تعبير دی، داسې يو حس او حالت لري چې کولی شي له خپلو مرموزو وسيلو او جوارحو سره خارجي حقيقتونو ته آګاهي او لاسرسی ومومي او اتفاقاً پيغمبر اکرم (ص)، هم هاغه «شديد القوي» [جبرئيل] چې په «اعلی افق» کې يې تقرر درلود، د وحی پر مهال، د سر د سترګو په توسه نه، بلکې د زړه (فوأد) د سترګو په توسه وليد:

فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَاأَوْحَى، مَاكَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى، أَفَتُمَارُونَهُ عَلَى مَا يَرَى، وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى [نجم (۱۰ تر ۱۳)] نو هغه خپل بنده ته وحی وکړه هاغه چې وحی يې کړل، دده زړه [فوأد] هاغه څه چې ليدلي ول دروغ نه ول، آيا تاسو له هغه سره پر هاغه څه چې دی يې ويني جګړه کوئ؟ او يقيناً هغه يې په يو بل ځل ليد لی دی.....

او هغه څه چې پر هغه [پيغمبر] وحی کېدل، د همدې لپاره ول چې د هغه «فوأد» د وړېسې او راتلونکو سخت ترو پړاوونو لپاره تثبيت کړي. او د رسالت په اجراء کې يې چمتو کړي. [(فرقان ۳۲) ...كَذَلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا-] [هو] همداسې ده[ له دې لامله پر تا لږ لږ، ورو ورو له تأمل سره نازلېږي] چې زړه دې پرې ښه کلک او استوار کړو او [له دې لامله] هغه په نرمه او ښه طريقه [په تدريج] پر تا لولو.

[(هود ۱۲۰) وَكُلًّا نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ ....] او د خپلو رسولانو له خبرونو تاته ټول هغه څه چې [د پند اخېستلو لپاره لازم وي] قصه کوو [او بيانوو] ددې لپاره چې ستا زړه پر هغې ثابت [کلک او استوار] کړو.

په دې ترتيب د «لوستلو» فرمان چې د وحی په پيل او ځرک کې پر رسول اکرم نازل شو، هغه ته يې د بل ډول لوستلو بلنه ورکوله چې له پېژندل شوو او متعارفو لوستو سره يې توپير درلود. اصولاً د «رب» نوم [د لوستلو په متعارفه معنا] د لوستلو وړ نه دی، چې يو څوک هغه د لحن او غږ په توسه ادا کړي. دا لوستل لکه څنګه چې د «اعلی» په سورت کې راغلي [سنقرئک فلا تنسی ] يو ډول ځان پوهنه [ خود آګاهي ] او «ذکر» [ ياد ] دی چې له «نسيان» [د ذکر ضد] سره په تقابل کې ځای پر ځای شوی دی.

ددې لپاره چې له دغه ډول قرائت او د هغه له لحن او آهنګ سره آشنا شو، له ټولو ړومبی بنايي د «قرء» کليمې په اصل او ريښې او د هغې په لغوي معنا پوه شو؛ د لغت پوهانو، قرائت د تورو او کليمو يو ځای کول او په ذهن کې د هغوی ترکيبول، معنا کړی دی، او اصولاً د يو څيز د اجزائو او برخو منضم کول او يو تر بله مل کول او په يوه ټولګه کې راټولول يې هم په همدې کليمه ستايلي او بللي دی، په داسې ډول چې لکه څنګه چې په سريزه کې ورته اشاره وشوه، حتا په قرآن کې،(دطهر پرمهال) د رحم دويني د قطرو تدريجي يو ځای کېدل «قروء» نومول شوی دی چې له پورتني مفهوم څخه يو مورد او مصداق دی. [بقره۲۲۸- وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ...] او طلاقې شوې [ښځې بايد له مباشتيني عادت د دريو ځلو پاکېدلو پورې تم شي [= له واده کولو ځان وساتي].....

د پورتنيو توضيحاتو له مخې باسواده وګړی هاغه چاته ويل کېږي چې د تاليف شوو کليمو او تورو تر منځ اړيکه وپېژني او تشخيص يې کړي او د هغه له «قرائت» [جمع او منظم کولو] سره د لېکونکي په موخه او مقصود پوه شي. د هستۍ کتاب هم له يو شمېر اجزائو [لکه د تورو او کليمو په څېر] تشکيل شوی دی چې په عين کثرت کې يو نه پرې کېدونکی وحدت او يو والی لري او د هاغه چا لپاره چې د هغه ځانګړی سواد ولري يو واحد جهت او لوری څرګندوي. لکه څنګه چې يو عامي او له «قرائت» څخه غافل وګړی، د کتاب د صفحې توري او کليمې د ګډو وډو او بې شکله او بې محتوا نښنو په توګه پېژنی، هغه څوک چې د هستۍ د کتاب باسواده او ويونکی نه وي، د هغه څيزونه او انځورونه، هر يو يې، مستقل، ځانګړي او بېل او له يو بل سره بې اړيکي ويني. په دې ليد کې د هستۍ نړۍ د چاپخونې د يو شمېر سربې تورو په څېر چې په بشپړ ډول په تصادفي توګه له يوبل سره ترکيب شوي او اينبوول شوي وي څرګندېږي، داسې يو ترکيب چې هيڅ ډول پند او پيغام نه لري او هيڅ قصد او غرض، وينا او موخه نه القاء کوي.

پر پيغمبر اکرم (ص) د نازل شوي کتاب اجزاؤ ته «آية» وايي او د هستۍ د کتاب اجزاؤ ته هم «آية» وايي، آية يوه نښنه ده چې د الله د لارې لاروی د مقصد لورته هدايت کوي. نو کتاب د قرآن په اصطلاح کې عمومي معنا لري. ټول عالَم د الله په نزد د يو کتاب حيثيّت لري؛ يعنې داسې ليکونه او کليمې چې پر يوه معنا دلالت کوي [قُلْ لَوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَنْ تَنْفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا «کهف ۱۰۹»][ووايه که ټول بحرونه زما د ربّ [پالونکي څښتن] د کليمو د لېکلو لپاره رنګ شي، دا د رنګ بحرونه به ختم شي خو زما د څښتن تعالی کليمې نه ختمېږي.] نو پر دې بنا هر دواړه کتابونه، په جزء او په کل

کې یوه هدف او موخې ته بلنه کوي، د عالم ټولې برخې او اجزاوې، انځورونه، بڼې، عنصرونه او څیزونه د یوه هدف او موخې په خدمت کې دي او لکه د یو کتاب د تورو، کلیمو، جملو او کرښو په څېر ټول په ګډه، هماغه منظور او موخه چې لیکونکي د هغه له تألیفه اراده کړې، یا دا چې الله تعالی په خپل حکیمانه مشیّت کې د هغه له خلقت او پنځولو څخه په نظر کې نیولې، څرګندوي. نو دوه ډوله لوستل او د قرائت دوه طریقې لرو، یو د کرښو او خطونو لوستل او بل د رمزونو لوستل.

به نزد آنکه جانش در تجلّاست همه عالَم کتاب حق تعالی است

د «رمزونو» لوستل، د عالم د اجزاؤ تر منځ د اړیکو تشخیص او پېژندل او د هغه د سینګار شوي، ګاڼل شوي، برابر، هم آهنګ او هم غږي نظم او ترتیب درک او پېژندنه ده. یعنې د«ربّ» پېژندنه، د هاغه پالونکي پېژندنه ده چې د هغه عِلم او قدرت دا ډول یو ترکیب تألیف کړی دی. هاغه زده کوونکی چې د «لوستلو» لومړني درسونه زده کوي په تدریج او پړاو په پړاو د ښوونځي او مدرسې د کتاب «لوستونکی» شي او په هاغه موخه او مقصد چې ښوونکي، معلم او «مربي» یې غوښتنه کړې ده پوهیږي. او دادی هاغه پیغمبر چې د هستۍ د کتاب د لومړنیو درسونو زده کړه کوي، او د کوم استعداد په توسه چې له ځانه یې څرګندوي په تدریج د هستۍ د کتاب لوستونکی کیږي او د «سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسَى»، [د اعلی سورت (۶) - ډېر ژر به دې [د هستۍ د کتاب په معارف] لوستونکی کړو، [په داسې ډول] چې هېر یې نه کړې.] له وعدې سره سم ډېر ژر ددغه کتاب توري او کلیمې درک کوي او د هغوي د معناو په پوهېدلو او پېژندلو د خپل «مربي» [ربک] په موخه او مقصود په ژوره توګه پوهیږي، د هېښتیا خبره په پورتنۍ وعده [سنقرئک...] کې هغه بدلون او تحول دی چې د پیغمبر په وجود کې د لوستونکې کېدو لپاره راڅرګندېږي نه د څه شي په لوستلو کې، ځکه چې که یو څوک لوستونکی شي، هرومرو پر هغه لوستل کیږي. دلته نه دي ویل شوي چې «سنقرء لک»، یا «سنقرء علیک» بلکې ویل شوي دي چې «سنقرئک» [ډېر ژر به دې لوستونکی کړو] دا ددې لپاره چې هاغه تحول او اووښتون ته یې اشاره کړې وي چې شونی دی یو انسان یې پیدا کړي، لکه څنګه چې محصل یې په تدریج پیدا کوي.

په دې ترتیب داسې برېښي (والله اعلم ) چې هغه څه چې پیغمبر د هغه په لوستلو مأمور شوی نه ددې سورت لومړني پنځه آیتونه دي ځکه چې دا آیتونه پخپله د لوستلو فرمان دی، او نه حتا د حمد سورت چې د قرآن خلاصه او لنډیز ګڼل شوی، او نه نور آیتونه او سورتونه،... بلکې د « رب د اسم » لوستل دي، هماغه ربّ چې خلق او پنځونه یې کړې ....

هغه هم نه یوازې د « رب » د اسم « لفظ »، چې لکه د نورو بې مسمّی او بې محتوا لقبونو او اسمونو په څېر چې د عادت په توګه یې وایو، بلکې د هغه په واقعي معنا له ټولې محتوا سره. الهي اسمونه او صفتونه د هغه د ذات راز راز جلوې دي چې زموږ لپاره ځلا او تجلا کوي. موږ الله د رحمن، رحیم، رب، علیم، قدیر او ... له «اسمونو» سره پېژنو او موږ ته امر شوی چې الله د هغه په همدې نیکو نومونو یاد کړو او وبولو «وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا...» [اعراف۱۸۰] او غوره ترین ښک نومونه [ = صفتونه او ځانګړتیاوې ] یوازې الله ته دي، نو په همدې [نومونو] یې راوبولئ.

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. لوستل په کومه طریقه او لارې؟ و مو ویل چې: د ربّ د «اسم» له لارې. خو «اسم» نه د لفظ په معنا. موږ معمولاً په نوم اېښوولو کې، [مثلاً د زامنو او لوڼو، په نوم اېښوولو کې]، ډېر ښکلي لفظونه چې زموږ خوښېږي غوره کوو او معنا ته یې ډېره لږه پاملرنه هم نه کوو. خو په قرآن کې د هر یو اسم د صفت معنا او د نوم محتوا ته پاملرنه کوي. مثلاً وایي ذکریا ته مو فرزند ورکړ او د هغه نوم مو «یحیی» کېښود، په داسې حال کې چې تر دې مخکې هیچا دا ډول نوم نه درلود: لَمْ نَجْعَلْ لَهُ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا [مریم ۷]. نه دا چې الله تعالی په یو ښکلي نوم چې تر دې مخکې یې شتون نه درلود او ابتکاري وو، نومولی دی. د «یحیی» نوم له حیات څخه اخیستل شوی؛ یعنې د یحیی شتون د تولنې لپاره ژوند ښونکی دی. یا فرمایي له عیسی وروسته به یو رسول راشي چې نوم یې «احمد» دی. د هاغه پیغمبر نوم چې وروسته او په پای کې به مبعوث شي څه ګټه خلکو ته لري؟ د هغوی لپاره څه توپیر کوي؟ «احمد» یعنې ډېر ستایلی. یعنې د وروستي رسالت څښتن د ډېرو ستایل شوو صفتونو څښتن دی. هغه ډېرغوره او اوچت تر صفتونه لري. اسم یې، یعنې صفت یې او شخصیّت یې او خُلق یې اوچت تر او برتر او ډېر ستایلی دی. یا د حضرت مریم په اړه وایي: وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ [آل عمران ۳۶] مور یې وویل چې پر هغې مې مریم نوم کېښود. «مریم» د هغه چا په معنا دی چې خپل ځان یې یو حقیقت ته وقف کړی وي؛ سمدم لکه د یوه سر په تلي سرتېرې په څېر چې ځان یې، خپل هیواد ته وقف کړی وي. نو پخپله دا نوم، یو پیغام لري. کوم نومونه چې په قرآن کې راغلي دي ټول د محتوا لرونکي دي.

خو په دې سورت کې د هغه د بې شمېره نومونو له منځه، وحی ته مخاطب شوي پیغمبر فرمان موندلی دی چې د «رب» نوم قرائت کړي [ولولي] «اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ»، د «رب» نوم د هستۍ په صحنه کې د هغه د پراخ «ربوبیت» د نښو او آثارو یادونه کوي چې ټول عناصر او څېزونه او د هغوی ترکیبونه یې لکه د یوه داسې مزي په څېر چې د تسپو دانې یې په

يو بل پورې نښلولي وي، د خپل عِلم، ارادې او قدرت په توسه نغاړلي دي. هغه څوک چې په الله ايمان لري د هاغه مُحصل او زده کوونکي په څېر دی چې ښل ښل توري يې پېژندلي دي. خو هغه څوک چې الله د «رب» له اسم سره پېژني د هاغه مُحصل په څېر دی چې د تورو او کليمو په ترکيب او د ليکونکي په موخې او مقصود پوهېدلی دی. نو ځکه د لومړنۍ وحی په توسه الله تعالی پيغمبر ته وايي د ربّ په نوم ولوله؛ دلته پوښتنه پورته کيږي چې ولې د ربّ په نوم؟ دلته يې نه دي ويلي «اِقْرأْ بِاسْمِ اللّهِ» يا «بِاسْمِ الرَّحْمن» يا «بِاسْمِ الرَّحِيم» يا «بِاسْمِ الْجَبَّارِ» يا «بِاسْمِ الْمُنْتَقِمِ» يا «بِاسْمِ الْمَلِک» يا «الْقُدّوسِ»، «السَّلام»، «الْمُؤمِنِ»، «الْمُهَيْمِن» [په قرآن کې کابو سل نومونه د الله لپاره ذکر شوي دي]، [بلکې فرمايي : بِاسْمِ رَبِّکَ؛] دا دې ته اشاره ده چې وحی د پالونکي رب د ربوبيت شأن دی. ولې الله تعالی انسان ته وحی کوي؟ [ځکه چې هغه د انسانانو د بشپړېدو او تکميل مظهر دی. الله تعالی غواړي په دې وسيله انسانان تر خپلې پالنې او ربوبيت لاندې ونيسي او هغوی بشپړ او تکميل کړي او ودې، تکامل او تعالي ته يې ورسوي. فرمايي: د خپل بشپړوونکي په نامه ولوله، د کمال او ودې ښونکي په نامه دې ولوله، د څښتن او پالونکي په نامه دې ولوله. يعنې د اعلی رب د ربوبيت په نامه ولوله!

دلته اړينه ده چې د ربّ د کليمې په اړه لنډه توضيح ورکړو «ربّ» د «رَبَوَ» يا «رَبَیَ» له مادې څخه نه دی چې د روزنې او پالنې معنا ورکوي، بلکې د «رَبَبَ» له مادې څخه دی چې معنا يې څښتن توب او خداوندګاري ده، خو په عين حال کې په دې لغت کې هر دواړه مفهومونه شته. موږ په پښتو کې داسې بشپړ لغت نه لرو چې د «ربّ» په ترجمه کې يې وکاروو.[«ربّ» يعنې څښتن، خداوندګار، هغه خاوند چې ته يې تر خپلې روزنې او پالنې لاندې نيولی يې. معمولاً يو څوک چې د يو څيز خاوند دی، ددې لپاره د څيز خاوند دی چې ګټه ترې پورته کړي، لکه انسان چې دپانګې خاوند دی له هغې څخه د ګټې پورته کولو لپاره،خو پالونکی رب دعالم او کايناتو خاوند دی، ددې لپاره چې عالم او کايناتو ته ګټه ورسوي او بشپړ او تکميل يې کړي.

لکه څنګه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه پيغمبر ته د لوستلو لپاره فرمان ورکول کيږي چې د «ربّ» په نوم ولوله. د «ربّ» په نوم «اسم ربّ» لوستل يعنې څه؟ که غور وکړو ټولې دعوې او شخړې د همدغه نوم پر سر دي. هر څومره جګړې چې د انبياؤ او امتونو د تاريخ په اوږدو کې رامخته شوې دي، د «رب» د اسم پر سر دي. تاسو د حضرت موسی خبرې له فرعون سره ولولئ؛ وبه وينئ چې ټولې خبرې يې د «ربّ» پر سر دي. موسی ورته وايي زه د «ربّ العالمين» له لورې راغلی يم، فرعون وايي وَمَا رَبُّ الْعَالَمِينَ [شعراء۲۳]. رب العالمين څه دی؟موسی ځواب ورکوي. رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ [شعراء۲۶]. هغه هماغه ستا ربّ او

ستا د پلرونو ربّ دی. فرعون له خپلو خوا او شا کسانو څخه پوښتنه کوي تاسو پوهیږئ دا څه وايي؟موسی خپله خبره غځوي او وايي چې د «ربّ السماوات والارض» او «ربّ المشرق و المغرب» له لوري راغلی دی، فرعون هم ربوبيّت ردوي او ملنډې پرې وهي. فرعون ښه پوهېده چې د موسی د خدای «ربوبيّت» د هغه د سلطنت او واکمنۍ لپاره خطرناک دی. حضرت ابراهيم هم کله چې له نمرود سره خبرې کوي، ټول بحث يې د ربّ پر سر دی.

د حضرت يوسف (ع) په قصه کې لولو چې هغَه خپلو زنداني ملګرو ته وايي: يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ، ای زما دوه زنداني يارانو، أَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ آيا د دنيا متفرق اربابان، دا ديکتاتوران او شاهان او قلدران، دوی بهتر دي، أَمِ اللّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ. يا هغه الله چې قهراً واحد دی او د ټولو ارباب يوازې هغه دی؟ [يوسف ۳۹] نو، يوازې هغه بايد ولولو او وبولو چې زموږ شتون او هستي له هغه دي.

«ربوبيّت» يعنې د اداره کونې [مديريت]، د واک او اختيار څښتن توب. د همدې لپاره دی چې ديکتاتوران د اربابۍ او مطلقې واکمنۍ ادعا لري «ربّ» هماغه څيز دی چې موږ ورته په پښتو او فارسي کې په وطنۍ اصطلاح «ارباب» وايو. د بېلګې په توګه د کلي ارباب، يا ارباب رعيتي رژيم. ربّ يا ارباب يعنې هغه څوک چې د واک او اختيار څښتن دی.
پخوانيو خلکو عادت درلود او روږدي ول چې يو آقا، بادار او ارباب پر سر ولري. په هر ځای کې په پايله کې يو ارباب اړين وو.

وسمهال هم لږوډېر همدا راز دی. وايي پلانکی رئيس دی بايد درناوی يې وشي او پروا يې وکړو او حساب پرې وشي. ځکه چې زموږ ژوند د هغه په لاس کې دی او ورته اړ يو. وسمهال په دې پېړۍ کې تر يوې کچې آزادي پيدا شوې خو د تېر تاريخ په اوږدو کې، تل يو پاچا، يو حاکم، يو واکمن، يو مشر، يو قلدر بايد شتون درلوداى، چون بې نظمي او ناامني واکمنه وه او خلک مجبور ول داسې يو چاته پناه يوسي. يعنې له ارباب درلودلو څخه د خلکو انګېرنه له دې پرته نور څه نه وه. څلوېښت پنځوس کاله مخکې چا دا تصور هم نه شو کولی چې مملکت يا هيواد دې پاچا ونلري. په منبرونو به واعظانو ويل، مېږيان پاچا لري، مچۍ پاچا يا ملکه لري، ټول پاچا لري، څنګه کېدی شي وګړي پاچا ونلري؟ په تېر تاريخ کې له ارباب پرته ژوند کول نه تصور کېده.
توحيد او يوګوني نمانځنه د رب په نمانځنې کې نغښتې او ګډه ده. يوازې ددې منل چې دا جهان يو خالق لري او موږ يو الله لرو کافي نه دی. د خدای نمانځنه، واحد ربّ ته له اعتقاد

پرته د خدای نمانځنې ظاهري بڼه ده. ربّ یعنې هغه څوک چې ته له هغه سره ژوند کوې او ستا هر څه د هغه په لاس کې دي لکه د یوې ادارې رئیس د هاغه چا په سترګو کې چې د هغه په استخدام کې دی. داسې یو رئیس چې له کاره یې ایستلی شي او یا یې معاش زیاتولی او کمولی شي؛ تل یې له هغه سره کار وي ورته اړ وي او د ژوند پروګرام او برنامه له هغه سره تنظیموي. «ارباب» په دې معنا دی.

پردې بنا، «ربوبیّت» د هستۍ او کایناتو په متن کې ولوله او پوه شه چې دا هستي د واک او اختیار یو خاوند لري، یو څښتن لري، یو ارباب لري. ډېره مهمه نکته او اشاره چې اړینه ده ښه پاملرنه ورته وشي داده چې؛ په قرآن کې د الله تعالی هیڅ صفت [د ربّ له صفت څخه پرته]، له ضمیر سره یا په مضاف بڼه نه دی راغلی.د بېلګې په توګه فرض کړئ رحمان، رحیم، علیم، قدیر، عزیز، هیڅ یو هم هیڅ ضمیر ورته اضافه شوی نه دی. له ۱۷۲۱ځلوڅخه چې د «الله» کلمه په قرآن کې راغلې ده حتا یو ځل هم له ضمیر سره مل شوې نه ده. البته د «اله»حکم بېل دی او د مطلق معبود په معنا دی. خو «ربّ» هیڅ کله له ضمیر څخه پرته نه دی راغلی.
۹۸۰ ځله چې په قرآن کې د ربّ کلیمه کارول شوې ده، ۹۹ په سلو کې یې له ضمیر سره ده: ربّی، ربّکم، ربّهم، ربّنا. او کابو په ټولو ځایونو کې له هاغو ضمیرونو سره چې مرجع یې انسان دی. «ربّ» یعنی مربی، معلم، هغه څوک چې تربیت کوونکی دی، روزونکی دی، پالونکی دی. اصلاً دا کلیمه په یوازې توګه یوه روښانه او څرګنده معنا نه لري. دا دې ته ورته دی چې د یو سړی په اړه چې په یوه جزیره کې ځانته او یوازې اوسېږي او له هیچا سره اړیکه نه لري، ووایو ښه معلم یا مربي دی. کېدای شي زړور او شجاع سړی وي، هوښیار او زیرک سړی وي، ډېر زیات نور صفتونه هم کولی شي ولري، خو د ارباب والي او مربي او معلم توب صفت ورته نه شي ویل کېدی.
نو په قرآن کې د «ربّ» صفت په پرله پسې توګه د نورو موجوداتو په اړه مطرح کېږي او له هغه پرته معنا نه ورکوي. د حق «ربوبیّت» او د هغه تربیتي اغېزې او نښې زموږ په وجود او ټولو کایناتو کې موجودې دي. او لکه څنګه چې مو اشاره وکړه البته عمدتاً او په ډېرې توګه د انسان په اړه دي او په ډېرو لږو موردونو کې لکه «ربّ العالمین» یا «ربّ السماوات والارض»، «رب المشرق و المغرب» راغلي دي، خو په هر صورت په هیڅ ځای کې په یوازې توګه نه دی کارول شوی.
نو، وایي ربّ ولوله، یعنې هماغه چې له تا او له جهان سره اړیکه لري. اراده یې، ځواک او قدرت یې، علم یې د عالم او آدم مقوّم او بنا کوونکی دی. یعنې د خدای او خالق تر منځ

قایم، دایم او تلپاتې اړیکه او ډیالوګ دی. نه وایي مثلاً عالِم خدای ولوله، یا عزیز او غفور.
نور الهي صفتونه په خپل ځای، خو د سورت په پیل کې د ربوبیّت د صفت ذکر کوي.
په قرآن کې ۹ ځله د الله نوم د اسم په توګه «اسم الله»کارول شوی او ۹ ځله د رب نوم «اسم رب» [۸ ځله ربک، ۱ ځل ربه]، د الله نوم «اسم الله» د قربانۍ د ذبحې پر مهال او یا د حج په مناسکو او یا په مسجدونو کې یاد شوی دی[مائده (۴) ـ انعام (۱۱۸ـ ۱۱۹ـ۱۲۱ـ ۱۳۸) ـ حج (۲۸ـ ۳۴ ـ۳۶ ـ ۴۰)] خو «اسم رب» یوازې او یا د عظیم، اعلی، ذی الجلال والاکرام، له صفتونو سره د هغه د «ربوبیت» د لوړوالي او د عظمت نښو او آثارو ته د پاملرنې لپاره یاد شوی دی. لکه: تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ [رحمن ۷۸] ستا د پالونکي رب نامه له برکته ډکه ده چې د جلال او کرامت څښتن دی.
فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ [الواقعه ۷۴ او ۹۶ ـ الحاقه ۵۲] نو د ستر پالونکي څښتن نوم دې. سپېڅلی وګڼه [د ستر رب په نامه تسبیح ووایه].
سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى [اعلی ۱] د خپل ډېر اوچت او تر ټولو لوړ پوړي پالونکي څښتن نوم دې [په خپل اند، وینا او چلن کې له هر عیب او نقصه] پاک او سپېڅلی وستایه.
(وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ...) [مزمل ۸ ـ انسان ۲۵] او د خپل پالونکي رب نامه دې یادوه...
وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى [اعلی ۱۵] او د خپل رب نوم یې په یاد کړ او لمونځ یې وکړ.
اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ [همدا سورت لومړی آیت].

په پورتنیو آیتونو کې په ترتیب د رب [پالونکي څښتن] د اسم پر مبارکوالي، ښادمن والي او تالېمن والي چې د جلال او کرامت خاوند دی[۱ ځل] ، د رب د نوم د تسبیح لزوم [۴ ځله]، د رب ذکر (یاد) [۳ځله] او په پای کې د رب د نوم لوستل [۱ ځل] توصیه شوې ده.
داسې برېښي چې د رب د نوم لوستل« اقرأ باسم رب » د رب د نوم له ذکر « ذکر اسم رب » سره نژدې معنا ولري، لومړنی لوستل، پوهېدل او درک کول دي، دویمی په ذهن کې په تلپاتې او دائمي توګه د هغه د خاطرې او یادښت په یاد درلودل، حفظ او ساتل دي، خو د رب د نوم تسبیح « سَبِّحِ اسْمَ رَبِّ » هغه موخه، پایله او غرض دی چې له قرائت او ذکر څخه باید حاصل شي.
په قرآن کې د رب د نوم (اسم رب) تسبیح د ستر او عظیم صفت سره مترادف شوی دی (فسبح باسم ربک العظیم) چې د انکار او د جهنم د عذاب د پایلې آیتونو له وړاندې کولو یا خبرتیاو وروسته په آسمانونو او ځمکه کې د هغه د ربوبیت د سترو او عظیمو آثارو او نښو څرګندونه کوي(۳ ځله)، او یا د «اعلی» له صفت سره مترادف شوی دی (سبح اسم ربک

الاعلى) چې د هغه د مخلوق په وده، رشد او کمال کې د هغه د ربوبيت «تعالي» او اوچتوالى څرګندوي. لکه:

واقعه (۷۱،۷۲،۷۳،۷۴،۷۵،۷۶): أَفَرَأَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ، أَأَنْتُمْ أَنْشَأْتُم شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنْشِئُونَ، نَحْنُ جَعَلْنَاهَا تَذْكِرَةً وَمَتَاعًا لِلْمُقْوِينَ، فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ، فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ، وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ.«آيا هغه اور ته، چې بلوئ، تاسې ورکتلي دي، آيا تاسو د هغه ونه [له نشته] پنځولې ده، يا موږ يې [په ټوله کې] پنځوونکي يو؟. موږ هاغه [اور] ذکر [د ياد راوړلو وسيله] او اړمنو ته د ژوند سامان ګرځولی دی؛ نو د خپل ستر پالونکي څښتن په نامه تسبيح ووايه [او پاك او سپېڅلی يې وګڼه]. نو سوګند د ستورو پر ډوبېدو [او پرېوتو]؛ او په تحقيق سره دا يو ستر سوګند دی که پوهېدئ »

واقعه (۹۵ـ ۹۶) إِنَّ هَذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِينِ، فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ [د جهنم د عذاب په اړه] بې له شکه دا [وينا]، په جوته توګه يقيني حقيقت دی؛ نو د ستر پالونکي څښتن [ربّ] نوم دې سپېڅلی وګڼه [د ستر رب په نامه تسبيح ووايه].

حاقه (۵۱ ـ ۵۲) وَإِنَّهُ لَحَقُّ الْيَقِينِ، فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ [د جهنم د عذاب د ستروالي او د قرآن د انذار په اړه] «او بېشکه دا [قرآن] حق اليقين [جوت حقيقت] دی نو د ستر ربّ [پالونکي څښتن] نوم دې بې عيبه او بې نقصه وګڼه».

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. لومړنی صفت چې د «ربّ» لپاره يې ذکر کوي کوم دی؟ خلقت او پنځول دي. او دا ډېر مهم دی. وويئ اصلاً دا يو فلسفي بحث نه دی، کلامي بحث نه دی، يا عرفاني بحثونه او اشراق او داسې نور. قرآن له هماغه پيله، له هماغو لومړنيو آيتونو څخه، خپل مسير او تګلاره له فلسفې، کلام، عرفان او اشراق او له دا ټولو څيزونو څخه چې زموږ د ذهنياتو محصول دی بېلوي. قرآن له هاغو مشهوداتو، پديدو او ښکارندو سره چې زموږ په شا او خوا کې دي، له هغوی پيل کوي. مخلوق او پنځول شوو کايناتو ته وګوره؛ کاينات او هستي ولوله؛ د هستۍ په کتاب کې ووينه چې آيا له دا ټولو کوم يو يې په خپل سر رامنځته شوی دی؟ دا ونه، دا غر، دا آسمان؟ دا کليمې ولوله چې څه وايي او څه پيغام لري.

دا ټول د هستۍ د ژبې الفبا ده. ولوله د هغه په نامه چې الَّذِي خَلَقَ. دا سمه ده چې «ربوبيت» له يوه حقيقت څخه زيات څه نه دي خو مختلفې ساحې لري. ننداره وکړه، پاملرنه وکړه چې هره برخه او ساحه يې څه پيغام لري. د خدای له اربابۍ څه څيز بايد ولولې؟ خلقت يې.

خو له خلقت څخه کومه برخه ولولو ؟ خَلَقَ الْإِنسَانَ، د انسان خلقت ته اړوند برخه. مِنْ عَلَقٍ. له «عَلَق» څخه. مفسرينو علق د علقه جمع ګڼلې او له همدې لامله ځينو په خپلو ژباړنو کې

ويلي دي «ترلې او راځوله وينه» يا «پرنده وينه» جامده وينه، ښايي له دې لامله چې د چرګې د هګۍ نطفې ته ورته دی. او لومړنيو مفسرينو د پرنډې جامدې ويني په توګه ګڼلی او ورپسې مفسرينو هم له مخکينيو پليوني کړې ده او ځينو قاموسونو هم چې د علقه يوه معنا يې ترلې وينه ژباړلې ښايي له مفسرينو څخه په پيروۍ وي خو هغه څه ته په پاملرنه چې وويل شول، علق د ترلې ويني په توګه ګڼل او د هغه تطبيق د جنين له پړاوونو پر يوه، نه لغوي او نه علمي محکم سند لري او که په دې آيت کې که علق د علقه جمع وګڼو،

[چې علقه د حج په ۵ آيت او همدا راز د مؤمنون په ۱۴ آيت کې راغلې: (.... فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ ... ـ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا... «... نو [يوه شئ چې ] مور تاسې له خاورې پنځولي ياست، وروسته بيا له نطفې څخه، بيا ورپسې له علقه ، ورپسې له مضغه... ـ بيا مو له نطفې [په تدريج ] علقه وپنځوله، نو له علقه مو مضغه [لکه د ژوولې غوښې په څېر] وپنځوله او له مضغه مو هډوکي وپنځول...)]

له دغې حياتي سرچينې او پيل سره منطبق نه دی ځکه چې په دې آيتونو کې علقه اي بڼه له نطفه اي بڼې وروسته ذکرشوې چې د نرينه او ښځينه له پيليز او مبدء «سلول» څخه پيدا شوې او رامنځته شوې ده .

او بله دا چې د «علق ـ د لام په کسر» معنا له مشتقاتو سره يې، بل پورې د يو ډول ځوړنتيا او نښتلو «تعلق ـ علاقه» د مفهوم متضمنه ده. او دا معنا له راځولې يا ترلې پرنډې ويني سره هيڅ تناسب نه لري. په مجمع البحرين کې د هغه تناسب په دې ډول بيانوي: « العلق د علقه جمع د جامدې ويني ټوټه ده د هاغه رطوبت له لامله چې پکې شته چې هر څه ته چې ورسيږي ورپورې نښلي او کله چې وچ شي هغه ته علق نه وايي، ژورې ته هم علق وايي ددې لپاره دی چې غړې پورې نښلي او وينه ترې روي». چې ددې تعريف متن پخپله يو متضاد متن دی.

ځينو هم ويلي دي چې له «عَلَق» څخه مطلب تعلق او اړوندتيا ده، ځکه چې انسان د اُنس اهل دی او ټولنيز او اجتماعي دی.

دوکتور يدالله سحابي په خپل کتاب «قرآن مجيد - تکامل او د انسان خلقت» کې راوړي چې د العلق «يا علقه» وصف د نطفې او مضغه تر منځ به د همدغه منځني پړاو د ځرګندولو لپاره له دې لامله وي چې جنين، د تيرو اوصافو او آثارو او غړو ځرګندېدو او ظهور ته د نښلېدلو او عبور په حال کې دی او لا تر اوسه يې د ډول بڼې ټيکاو نه دی موندلی، ځکه همدا چې نطفه (تومنه) جوړه شوه، بنسټ اچونه او متې ابښوونه او ويشنه پيلوي او په دې پړاو کې، د تيرو

میراثي صفتونو او ډولونو عضوي آثار په پټوني او کمین کې دي او څرګند نه دي، له دې پړاو وروسته، بڼې او غړي چې د ډولونو او د تېرو د اوصافو او آثارو څرګندوونکي دي، په پرله پسې توګه ښکاره کېږي او تغیر مومي او څرنګه چې په دې پړاو کې جنین ثابته او ټېکاو بڼه او وضع نه لري او په واقعیت کې یې حالت نښتی او اړوند «متعلق» او ځوړند «معلق» دی او د علقګۍ وصف او ستاینه لري. وروسته له دې چې دا پړاو یې تېر کړ، او د اصلي غړو نښې، بڼیز او ډولیز صفتونه ښکاره شول او ټېکاو یې وموند، د مضغه بڼې ته ګرځي. ـ ډېره څرګندېدنه چې العلق یې د مصدري او مصدري اسم [اړوندېدل – اړوندتیا] په معنا کې لري ددې بیان او تطبیق تائیدوونکی دی او د آیت له نظر سره چې د انسان د پیل او پای [منشأ او نهایت] تر منځ د مقایسي متضمن دی، ډېر مناسب دی: انسان یې له ناپایداره، بې ټېکاوه او بې ثباته منشأ او پیل څخه، د درک له ځواک، خپلواکۍ او اختیار سره او له فعالو ځواکونو سره وپنځاوه او شته کړ.

ځینو نورو ویلي چې: [په ځانګړې توګه په دې وروستیو کې چې د ژنتیک علم ځینې مسئلې روښانه کړې دي] مطلب ترې سپرماتوزوئید [Spermatozoid] دی.یعنې هغه لومړنۍنطفه چې د رحم په دېوال پورې نښلي او «معلق» یا ځوړنده نښتې پاتې کېږي؛ لکه د ژورې په څېر چې بدن پورې نښلي او وینه روي او کش کوي، نطفه هم د رحم له وینې څخه رشد کوي. په عربي ژبه کې د ژورې نښتلو ته هم « عَلَق» وایي. نو اوسنیو مفسرینو د علمي نوو پرمختګونو او کشفیاتو له لامله دا نتیجه اخیستې چې د نرینه سلول یا سپرماتوزوئید، ژورې ته ډېر ورته دی.

[په دې اړه د لاښه توضیح لپاره ددې لبکنې په پای کې لومړني انځور ته پاملرنه وکړئ]

خو په هر صورت، دا چې په هره معنا واخلو، لنډیز دادی چې الله تعالی انسان له یوې نطفې او له یوه ډېر ټیټ پړاوه خلق کړ او و یې پنځاوه، وده یې ورکړه او د عقل، پوهې او درک او شعور دې لوړ پړاو ته یې ورساوه.

څرنګه چې خبره د «ربّ» په اړه ده او پیغمبر هم چې غواړي د الله د ربوبیت مظهر شي او بشر تربیه کړي، ویې روزي او پالنه یې وکړي، او هم څرنګه چې د بشپړتیا تکمیلي او تربیتي مکتب یې راوړی دی په هماغه پیل کې د جهان د تکمیلي نظام او تربیتي نظام خبره کوي وایي: وګوره خالق او پنځګر رب ته، انسان چې د مخلوق او کایناتو اشرف دی له څه ډول یو ضعیف ټکي او نقصه یې تر دې بریده د کمال پړاو ته رسولی دی.

په نتیجه کې پوهېږو چې د اعلی رب د «ربوبیت» نښې او آثار بې شمېره دي،نو د فرمان مخاطب ددغه لایتناهي کتاب کومه صفحه ولولي؟ چې دلته مطلق تخلیق ته اشاره ده، مطلق

تخليق او پنځونه ولولي او په دې بهير کې له پيله تر اوسه د تدبير او تربيت نقش مشاهده کړي [اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ]، او د پنځونې او تخليق کمال ولولي چې څه ډول له علق څخه په پای کې د انسان پيدايښت ته ورسيږ [خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ].

اقْرَأْ، بيا تکراروي ولوله. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ. ولوله چې ستا رب «اَکرم» دی. «اَکرم» يعنې ګرانترين، تر ټولو ډېر ارزښتناک، تر ټولو لوړ رتبه، وړترين او کريم ترين. پاملرنه وکړئ: په هاغو لومړنيو آيتونو کې چې پر پيغمبر نازل شوي دي، اصلاً له الله څخه خبره نشته. لومړنۍ پېژندګلوي او معرفت په «ربوبيت» دی. ځکه چې بشر بايد يو ارباب ولري؛ په ځانګړې توګه په هاغه دوران کې چې هرو مرو انسان بايد يو چا يا يو ځای پورې تړلی وای او يو تکيه ځای يې درلودلی وای. نو بشر ربّ غواړي خو داسې يو ربّ چې د ټول جهان ربّ دی؛ د ټول جهان ارباب دی؛ داسې يو پالونکی رب، خالق او پنځګر چې ټول څيزونه يې خلق کړي او پنځولي دي او ته يې هم له عَلَق څخه پنځولی يې. هغه ولوله.

نو دلته چې د ربّ د کوم صفت ذکر کوي هغه دغور وړ دی د «اکرم» صفت ذکر دی؛ يعنې د کريمترين. د «اَکْرَمْ» کليمه د «کريم» اسم تفضيل دی. کريم يعنې ستر، ښونکی، هغه انسان چې څه لري، د يو څه خاوند دی، له هغه څه څخه د ځان په اړه دګټې اخيستو لپاره، خو ربّ چې د څيزونو خاوند دی د همدغو څيزونو کمال ته د رسولو لپاره دی. هغه څه چې د حق له لور راځي کرم، جود، سخا او ښښنه ده. معاوضه او مبادله نه ده. ربّ په خپل کرم موجودات پنځوي او خلق کوي او په خپل لوړ کرم او په خپل اکرميت موجودات تکميل او بشپړوي او له نقصه يې کمال ته رسوي. نو ستا ربّ کريم دی، لئيم نه دی. د دنيا د اربابانو پر خلاف چې لئيمان او ظالمان دي خودخواه، مستبد، بدجنس او حريص او خسيس دي، خو ربّ کريم دی. په عربي ژبه کې «کرامت» او «کريم» له اوچتو فضيلتونو څخه دی. د جاهليت په دوران کې، د عربو په نزد د کرامت صفت د انسان له ډېرو اوچتو صفتونو څخه ګڼل کېده. هغه انسان به چې د ډېر اوچت شخصيت، سړيتوب او د ستر وګړيتوب لرونکی وو، او د ډېر خير او احسان اهل وو او په ټوليزه توګه د روحي امتيازونو او د لوړو او ممتازو اخلاقو لرونکی وو هغه ته به يې «کريم» ويل. «کريم» د «کَرَمَ» په صفت کې مبالغه ده.
خو ربّ ولې کريم دی؟ ربّ د انسان په حق کې څه کړي دي؟ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ.
د هېښتيا وړ ده! تصور وکړئ په هغه ټولنه کې چې ټول خلک يې بې سواده ول او پيغمبر هم له قلم او ليکلو سره سروکار نه درلود او په بيديا او صحرا کې ستر شوی دی ورته ويل کيږي

ولوله! او په دې آیت کې الله تعالی د قلم او د قلم په توسه د علم او پوهنې د لېږد او خپرېدو اهمیت څرګندوي او د یو نالوستي پیغمبر په توسه چې لیکل یې نه شو کولی پیغام ورکوي چې ستا ربّ کریم ترین دی هغه چې د قلم د کاروني په توسه یې تعلیم او ښوونه وکړه.

د «عنکبوت» په سورت کې هم هغه ته وایي تا په خپل ټول عمر کې لوستل او لیکل نه دي کړي [عنکبوت ۴۸] وَمَا كُنْتَ تَتْلُو مِنْ قَبْلِهِ مِنْ كِتَابٍ وَلَا تَخُطُّهُ بِيَمِينِكَ... په داسې یوه ټولنه کې، الله تعالی په لومړنۍ وحی او پیغام کې د قلم په توسه د زده کړې د نعمت ذکر کوي او خپل ځان داسې پالونکی ښښتن [ربّ]معرفي کوي چې بشر ته یې د قلم او زده کړې کرامت کړی دی او په دې معنا «کریم» دی. پاملرنه وکړئ کتاب او لیکل زموږ په زمانه کې اعتبار او اهمیت لري؛ دا څیزونه په هاغه مهال کې د ډېریو خلکو لپاره [په ځانګړې توګه د پیغمبر د زماني عربانو لپاره] هیڅ مطرح نه ول.

دا ددې په څېر دی چې وغواړئ یو چاته چې له تمدن څخه لېرې د افریقایي قبیلو په یوه قبیله کې ژوند کوي یو کمپیوټر ډالۍ کړئ. هغه اصلاً نه پوهیږي چې کمپیوټر څه څیز دی؛ دا ډول یو څیز هیڅ مهم نه ګڼي. هغه خوښوي چې داسې څیزونه ورته ورکړل شي، چې په خپل عادي ژوند کې ورته ضرورت لري. هغه له کمپیوټر سره څه کار لري؟ اصلاً نه پوهیږي چې دا څه ته پکاریږي. د هغه نوم یې لا نه دی اورېدلی دا لا څه چې د هغه په استفاده او استعمال پوه شي. ښه، آیا دا ستاسو له نظره ډېره عجیبه نه ده؟ نو دا هم آیا د هیښتیا وړ نه ده چې له یوزروڅلورسوه کاله مخکینۍ قبیلوي وروسته پاتې ټولنې سره، چې ښایي پنځو کسانو یې هم د لیکلو او لوستلو سواد نه درلود، او له هغه چا سره چې د همدغه پیغام اخیستونکی دی او په خپل ټول عمر کې یې هیڅ زده کړه تعلیم، لیکل او لوستل نه دي کړي، د الله تعالی لومړنۍ خبره د لوستلو، قلم، تعلیم او زده کړې په اړه وي او الله تعالی خپل ځان د یو ښوونکي په توګه معرفي کوي چې عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ.؟ هغه څوک چې انسان ته یې داسې څیزونه، چې پرې نه پوهېد د قلم له لارې وروښودل.

نو وایي: بیا دې هم لوستلو ته ادامه ورکړې، ځکه چې د هغه «ربوبیت» همداسې ادامه لري او انسان یې چې خلق کړی، د قلم د «کاروني» د تعلیم په مرسته په پراخو ابعادو او اړخونو کې یې رشد، ودې او کمال ته لارښوونه کېږي او هغه د خپل کرم له لایزالي خزانې څخه پر انسان د رحمت لورینه کوي [اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ].

د خلق او اقرأ د فعل تکرار او مضاف صفت او د رَبُّكَ الأَكْرَمُ موصوف، د خلق د تکمیل او قرائت او ربوبیّت پړاوونه څرګندوي. د وربک، واو د مل، ورسره یا د جملې د حالیه یا عاطفه

تضمين کوي، د الاکرم صفت د ربوبيت او کرامت زياتوالی څرګندوي: ولوله او حال دا چې... ته د خلقت او د انسان د خلقت په کتاب کې د خپل څښتن او پالونکي رب ډېرتر کرامت او ربوبيت لولې - هماغه چې له مطلقې پنځونې وروسته يې دا پنځونه د انسان د پنځونې په توسه بشپړه کړه چې د کريم رب د کرامت له آثارو او نښو څخه دي خپل کرامت او ربوبيت يې زيات کړ او پر مخ يووړ تر هاغه چې انسان د هغه له ټولو ځواکونو او استعدادونو سره په خپل حال پرېښودي او د قلم په توسه يې هغه ته تعليم ورکړ او د علمي او عقلي ودې او کمال لار يې وروښووله.

[يَا أَيُّهَا الْإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ. الَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ (انفطار/۶،۷) ای انسانه، څه خيز ته د خپل کريم [لورين] پالونکي څښتن پر وړاندې مغرور کړی يې. هماغه چې پيدا يې کړې او په بشپړه بڼه يې برابر کړې. او [ ستا د غړو تر منځ] انډولتيا يې در پيدا کړه ]

نو په دې ترتيب د «اقرأ» د فرمان مخاطب بايد د خلقت او پنځونې له کتاب څخه د «ربوبيت» څېرکی [فصل] د هغه له پيله ولولي، چې يوه تدبيري لاس په خپلې ارادې، علم، قدرت او ځواک د وجود عالم وپنځاوه او د خپل ربوبيت تر چتر لاندې خيزونو ته د وجودي کمال، ودې او رشد، پالنې او روزنې پر لور لارښود شو، او په دې لړۍ کې د علق په نامه له يوې ناخيزه منشأ څخه د انسان په نامه د يو برتر موجود تر پيدايښته، تر هغې چې دغه موجود ته د خپلو تجربو او پوهنيزو او علمي زده کړو د ليږد لپاره د «قلم» زده کړه او تعليم ورکول کېږي، او په کومو علومو او آيتونو چې مخکې نه پوهېده په تدريجي توګه تر آګاهۍ پورې ولولي [عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ].او په همدې ترتيب د«اسم رب»[د څښتن تعالی د نوم] لوستل دي. ګواکې د «ربوبيت» برېښوونکې جلوه په همدې وروستنۍ برخه کې ځلا او تجلی کوي چې د «قلم»، «کتاب» او «بيان» پېښه ورته راکښل کېږي، لکه څنګه چې د «رحمن» او «قلم» په سورتونو کې هم پر همدې امتيازي وجه ټينګار کوي:

(قلم) : ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ، مَا أَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ. نون، سوګند پر قلم او څه چې ليکي، [چې] ته د خپل پالونکي څښتن د [پيغمبرۍ د] نعمت په لطف [او پېرزوينه]، [دمنکرانو د تورونو پرخلاف] مجنون [= پرته ويونکی] نه يې.

(رحمن): الرَّحْمَنُ، عَلَّمَ الْقُرْآنَ، خَلَقَ الْإِنْسَانَ، عَلَّمَهُ الْبَيَانَ. رحمان [لوراند الله]،[هماغه چې] قرائت [لوست] يې ښوولی، انسان يې وپنځاوه. [او] بيان يې هغه ته وروښود.

د قلم په سورت کې د ليکلو لپاره د قلم کارونه (ما يسطرون)، د «رب» له نعمتونو او نښو څخه او د انسان د روزنې او «تربيت» لپاره د هغه تدبير ګڼې او د «رحمن» په سورت کې، چې

د قرآن «زده کړه» يې د انسان پر خلقت مخکې او د«رحمانيت» له ځرګندو نښو څخه ذکر کړې ده، ورپسې يې د «بيان» پر زده کړه اشاره کړې ده چې د علم او قلم د لاسته راوړنو رسوونکی او بشپړونکی دی.

کېدای شي چې د قرآن له کلېمې څخه مقصد په « عَلَّمَ القُرآن » کې چې د انسان له خلقت څخه تر مخه راغلی، نه دا معروف او متعهد قرآن وي، بلکه هماغه لغوي معنا يې چې له يو بل سره د يو کل د اجزاؤ جمع کېدل او منظم کېدل وي، په دې صورت کې د استعدادونو يو ځای والی او د اجزاؤ او سلولونو ترکيب چې هر يو يې د فطري فرمان او غريزې هدايت لوستونکي ول چې د انسان په نامه د يو بشپړ پېچلي او يو تر بله د پيوسته، اړوندو او پرله پسې غړو والا موجود د پېدايښت لامل شوی دی.(والله اعلم)

هغه څوک چې يو کتاب لولي او د ليکونکي په لوړو او متعالي هدفونو او موخو پوهېږي، نو لوستونکی د ليکونکي په اړه له بد نظر او باطلو انګېرنو څخه چې مخکې يې د ناپوهۍ او نا آشنايي له لامله لېکونکي ته نسبت ورکولې ساتي، او لېکونکی پاک او منزه ګڼي. د الله د «ربوبيت» د کتاب لوستل هم لوستونکي د «رب اعلی» تسبيح ته کشوي او د وجود ذرې يې د نورو کتاب د تأليفوونکي تحسين او تقديس ته اړ باسي.

الله تعالی انسان ته يو استعداد ورکړی چې له نورو موجوداتو څخه د انسان ټول امتيازونه په همدې استعداد کې نغښتي دي او د انسان احسن تقويم ددغه استعداد منشأ دی [لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ (تين/۴)] او هغه، د عالِم کېدلو او پېژندنې استعداد دی.
حيوانات او انسان د څيزونو په نسبت شناخت او پېژندنه لري، خو د حيواناتو پېژندنه له حسي پېژندنې څخه زيات کوم بل څيز نه دی، ژوي يوازې د څيزونو بڼه پېژني. خپل بچي پېژني او هم د خپلو بچو او د نورو د بچو تر منځ توپير کولی شي؛ خپله ځاله، غوجل او آخور پيژني، خپل خوراک، دانه او واښه پيژني او ډېر نور څيزونه په غريزي توګه پېژني. غريزه له علم سره توپير لري. غريزه يو ډول مجهوله دروني القاء ده. کېدی شي نوم يې «الهام» وبولو، چې له الهام پرته د توجيه بله لار هم نه لري خو په هر حال اکتسابي نه ده؛ يعني غريزه حيوان ته ورکړل شوې ده او يو پل هم مخکې وروسته نه ځي يعني تغير نه کوي. کوم نظم چې د بېلګې په توګه مېرياڼ يا د شاتو مچۍ لري د هېښتيا وړ دی خو دا ټول د غريزې په بڼه دي مېرياڼ له پيله چې خلق شوي له دغه الهي الهام سره خلق شوي دي او د تل لپاره به دغه الهام لري او هيڅ تغير نه کوي. خو الله تعالی انسان ته د پېژندنې او علم ژور استعداد ورکړی دی

هاغه ژور استعداد دادی چې فکر کوي او د عقل پر بنسټ د عالم او کايناتو د قاعدو او ضابطو کشف کوي.علمونه او فرهنګونه د عالم او کايناتو له چارو څخه د انسان ژوره پېژندنه ده يعنې پر کايناتو او موجوداتو واکمنې قاعدې او حاکم قوانين کشفوي، او له هماغو قوانينو څخه ګټه اخلي، خپل چاپېريال او طبيعت د هاغه څه مطابق چې پخپله يې غواړي جوړوي.

د علم، پوهې او پېژندنې مسئله له دوو نورو اصلونو سره تړاو لري او له هغه پرته شوني نه ده. انسان په ټولنيزه توګه کولی شي څيزونه وپيژني او علم لاسته راوړي چې دا په انفرادي او ځانله توګه ناشونی دی؛ يعنې عِلم چې په عالَم کې پيدا شوی د انسانانو د همکارۍ او ګډ کار محصول دی، که انسانانو انفرادي حالت درلودلی ښايي له حيواناتو څخه به هم ټيټ وای.

په علمي مسئلو کې ګډ کار او همکاري د کومو وسيلو په توسه سرته رسيږي؟
دا ګډ کار او همکاري چې په پايله کې د علم، فرهنګ او تمدن د پيدايښت لامل شوی دی د دوو څيزونو معلول دی: يوه ژبه [خبرې او مکالمه] او بل قلم [ليکانې]. يعنې يو انسان تجربه کوي او يو څه لاسته راوړي، يو بل انسان نور څه لاسته راوړي او يو بل انسان نور څه ... په همدې ترتيب تر پايه... که دوی ونشي کولی په خپلو کې تفاهم رامنځته کړي، يعنې که ونشي کولی خپله پوهه نورو ته ولیږدوي، او همدا راز د نورو پوهې ته لاسرسی ونلري، نو هاغه وخت د هر چا معلومات د هغه له خپل ځان سره پاتې کيږي او هيڅوک د يو بل له تجربو نه خبريږي. او هر څوک به په هماغه پيل کې تکراراً پاتې وي. خو کوم مهال هغه څه چې زه لاسته راوړم، د ژبې له لارې يې تاسو ته ليږدوم، موږ دواړه د هر دواړو پانګو خاوندان شولو. ښا دريم، څلورم، ... سلم ... زرم ....، په داسې ډول ټول خپل معلومات يو تر بله شريکوي او هر څوک لږ تر لږه د زرو کسانو په توسه حاصل شوي معلومات لري او په دې توګه علم پراختيا مومي. دا هم کافي نه دی، بلکې نسلونه بايد يو تر بله اړيکه پيدا کړي. که يوازې وينا وي دا نسل هغه څه چې زده کوي تر يوې کچې يې بل نسل ته ليږدوي، خو د ژبې او غوږونو له لارې ناشونې ده د يو نسل ټولې علمي، فرهنګي او مدني لاسته راوړنې بل نسل ته ولېږدول شي. دلته نو د قلم او ليکلو موضوع را منځته کيږي. يعنې يو نسل هر هغه څه چې لاسته راوړي دي نه يوازې د ژبې له لارې يې ورپسې نسل ته ليږدوي [ چې ټول يې د لېږد وړ نه دي او هيريږي بلکه د لیکلو له لارې يې هم ورپسې نسل ته لېږدوي ].

همدا لامل دی چې انسانانو له کومې زمانې راهيسې چې قلم په لاس اخيستی او ليکل يې پيل کړي او پر هاغه څه چې پوهيږي د ليکنې په بڼه راوړي، تېر او راتلونکی نسل له يو بل سره

نښلوي او يو وحدت او يووالی رامنځته کوي. «وينا» هم مهالي انسانان له يوبل سره نښلوي او «ليکنه» هغه افراد چې له يو بل سره زماني واټن لري او حتا، همزمان وي خو مکاني واټن لري له يو بل سره نښلوي او تړاو ورکوي. يو چا چې خپل علمي آثار زر دوه زره کاله مخکې په ليکلې بڼه پرېښي، وسمهال په دې زمانه کې ترې خلک استفاده کوي. نو د قلم او ليکانې، علم او تعلم د اهميت په نظر کې نېولو سره حق تعالی خپل اُمي پيغمبر ته وايي [اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ]. نو اصلي نسخه او د الهاماتو او کشفياتو منشأ او سرچينه؛ د خلقت ستر او عظيم کتاب او د انسان مرموز کتاب دی چې د ربوبي قلم په توسه لېکل شوی دی او انسان د فطرت، عقل او ادراک او د فردي او ټولنيزې ودې او تکامل په مدرسه کې، پخپله له دغو دوو کتابونو او د هغو له رمزونو، نښنو او اشارو څخه يې يو لړ درسونه زده کړي او تجربې يې لاسته راوړې دي او له بقاء سره د مينې په انګېزه يې هڅه کړې له خپلو زده کړو، پوهې او لاسته راوړنو لنډيز او خپلې تجربې په کوټلې توګه په هر حالت کې او په هره بڼه چې توانېدلي ثبت کړي او وساتي. چې په پايله کې د خطونو او ليک؛ نښنو او علامو وده او تکامل وکړ او ليکل آسان شول او د اند او تفکر او د تېر مهال د اړيکي لار له راتلونکي او له نورو هم مهالو سره پرانيستل شوه او اندونه د قلم د نوکي په توسه يو له بل سره وتړل شول. همدا آثار او لېکنې دي چې د قلم د نوکي په توسه تثبيت شوي دي، او نېک او بد عملونه او تجربې دي چې پاتې شوي دي، چې د اند او پرمختګ لار د راتلونکو لپاره پرانېزي او له دې پرته، ټول څواکونه، سرکښۍ، وياړونه او سترې ودانۍ لکه د اوبو پر سر د ځګ په څېر، له منځه تللي دي.

له «اقرأ» څخه تر دې ځايه، چې وايي: ته ولوله! ته دا وحی د خپل پالونکي ربّ په نامه تلقي کړه چې خلق يې کړل، [چې ويې پنځول] د خپل پالونکي ربّ په نامه چې انسان يې، دا ستر موجود چې اشرف المخلوقات دی، له ډېر ټيټ او ووړ پړاوه د کمال دې پړاو ته ورساوه؛ هغه انسان چې وروسته له دې چې انسان شو او د ځمکې مخته راغی او که په دې پړاو کې تم شوی وای ځای پر ځای به پاتې وای، هغه ته يې د قلم د استعمال تعليم ورکړ او داسې څيزونه يې ورزده کړل چې هيڅ پرې نه پوهېد. د انسانانو تېر نسلونه پر هاغه څه چې راتلونکي نسلونه پرې پوهېږي نه پوهېدل. اوس نو «اِقْرَءْ» ولې دې ټولو مسئلو ته لامل شوی دی؟ [ولوله چې ستا پالونکی ربّ داسې يا هغسې...] دا څرګندوي چې د خاتم الانبياء د وحی له طلوع سره سم علم طلوع کوي، فرمايي له دې وروسته ستا عصر د علم، فرهنګ او مدنيت عصر دی. اوس که انسان خپل خدای، پنځګر او خالق خدای، هاغه خدای چې د انسان ربّ دی، هغه

چې د انسان پالونکی ښښتن دی او هغه يې د علق له پړاوه د ژوندپوهنې تر پړاوه او د ژوند پوهنې له پيليز پړاوه د متمدن او فرهنګي انسان تر پړاوه رسولی دی، تر نظر لاندې ونيسي او دې ته پاملرنه وکړي څه تشخيصوي؟ خدای د ربّ [پالونکي ښښتن] او دا نړۍ او کاينات د تربيّت، پالنې او روزنې، د بشپړېدنې او تکميلي دستګاه په توګه پېژني، د ربّ [پالونکي ښښتن] اطاعت ته سر ږدي او د الله بنده ګي کوي او پوهېږي چې د خدای دا بنده ګي د هغه د خپلې ودې، تکامل او مربوبيت په مسير کې ده.

تر دې ځايه، دا پنځه آيتونه، مهمو موضوع ګانو ته اشاره کوي: لوستل، ربوبيت، خلقت، انسانيت، قلم او زده کړه. يو ځل بيا ستاسو پاملرنه دې نکتې ته را اړوم چې په هغه دوران کې په ټولنو او خلکو کې اصلاً د «انسان» بحث مطرح نه دی. دا مفهومونه ټول په اوسني او نوي دوران او زموږ په زمانې پورې اړه لري. په تېر وخت کې «قبيله» ډېره مهمه ګڼل کېده او د قبيلو رئيسانو او مشرانو ډېر زيات اهميت درلود نو ځينې خلک چې وايي قرآن د پيغمبر خبره او د هغه د ذهن تخليق دی څنګه کولی شي دا مسئلې توجيه کړي چې دا د بشر مهمترينې او بنسټيزې مسئلې، تلپاتې او ابدي مسئلې يې په هاغه وخت کې مطرح کړې دي.

خلقت او انسان، لوستل او علم او قلم نه يوازې د هاغې ورځې عربستان، بلکې د هاغې زمانې د نړۍ سره يې هم اصلاً تناسب نه درلود. دا ټول زموږ د زمانې او مهال مسئلې دي. نو پر دې بنا آيا له دې پرته نور څه دي، چې ووايو ددې خبرو ويناوال فرازماني [له مهاله بهر] او فرا مکاني [له مکانه بهر] دی؟ آيا دا خبرې د ټول بشر او د بشريت د راتلونکي لپاره نه دي ويل شوې؟ د حرا په غار کې، په مکه کې، چې د قلم خبره وشي، هغه هم له هاغه چا سره چې سواد يې زده کړی نه دی؟! الله تعالی خپل ځان ورته معرفي کړي، خو ددې پر ځای چې ووايي ستا ربّ [پالونکی ښښتن] هغه دی چې مثلاً کجوري يا اوښان او داسې نور ځيزونه يې انسان ته ورکړي دي، له علم او قلم، تعليم او انسانيت خبره کوي او انسان ته ددې ورکړې او ښېنې ذکر کوي؟ هغه ته ووايي چې «ولوله»؟ د هستۍ کتاب ولوله؟

---

**د پو رتنۍ تشريح لنډيز:**

۱ ـ د « اِقْرَأْ» څخه مطلب يوازې د يوه ليکل شوي متن لوستل نه دي. هر يو متن له جملو، کلمو او تورو څخه تشکيل شوی دی چې د ليکونکي پيغام د قراردادي نښنو په توسه، چې ژبپوهنه نوميږي، لوستونکي ته ليږدوي. د هستۍ نړۍ هم همداراز لکه د کتاب د تورو او کلمو په څېر له آيتونو او نښنو تشکيل شوې چې د هغو په کتو او څرګندېدو د شته کوونکي او پنځوونکي په باطن او شتون پوهېدی شو.

د اسلام پېغمبر اُمّي او نالوستی وو او سره له دې چې نالوستی وو او نه يې شو کولی ليکل شوی خط ولولي خو د مولوي په تعبير:

« نگار من که به مکتب نرفت و خط ننوشت — به غمزه مسئله آموز صد مدرس شد»

«زما نګار چې ښوونځي ته تللی نه دی او نه يې خط ليکلی ـ سلو ښوونکو ته دسترګو رپ کې د مسئلو د حل ښوونکی شو»، د ليکلي خط د لوستلو پر ځای ، د خلقت د آياتونو لوستل يې په هماغه شببه کې پيل کړل او له هاغو څرګندو نښو، د هستۍ په پټو رازونو پوه شو او د «سَنُقْرِئُکَ فَلا تَنْسَى» [اعلی۶(۶:۸۷)] په مصداق ډېر ژر د هستۍ لوستونکی شو.

په عربي ژبه کې د قرائت ريښه اي معنا، د يو څيز د برخو نښلول له يو بل سره او د يوې ټولګې جوړښت دی. د بېلګې په توګه د کتاب په جوړونه کې توري او کلمې له يو بل سره نښلول، يا د آفرينش او پنځونې په شببه کې د نړۍ د لومړنيو عناصرو نښلېدل او د ژوندانه د ډول ډول بڼو پيدايښت. له دې ليده قرائت او لوست، د انسان له پيدايښته ترمخه شتون درلود او الله تعالى قرائت د لومړنيو برخو د ترکيب په معنا، د اتوم له وړو ذرو څخه نېولې تر اتومه، او په پای کې د لمر او ځمکې پيدايښت يې هغوی ته وروښود او د مادې د قرائت په کمال کې د هغې په ډول ډول بڼو کې، په انسان کې د خپل روح په پُو کولو نوی ډول رامنځته کړي [د الرحمن سورت: الرحمن، علّم القرآن، خلق الانسان].

په قرآن کې هم د ښځو مباشتينی عادت چې په رحم کې د وينې د څاڅکو له تدريجي جمع کېدلو څخه پيل کيږي «قروه» نومول شويدی چې له هماغې ريښې دی [بقره ۲۲۸ (۲:۲۲۸)]. پرهغه بنسټ چې قرآن يې توضيح کوي، د وحی آهنګ، د پيغمبر غوږ ته نه، بلکې د هغه پر قلب او فؤاد انګازه وکړه او پوهيږو چې د قلب په توسه قرائت بل راز دی چې خپلې ځانګړې قاعدې لري: «قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ...» [بقره۹۷(۲:۹۷)]، «نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ﴿۱۹۳﴾ عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ ﴿۱۹۴﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ﴿۱۹۵﴾» [شعراء له ۱۹۳ (۲۶:۱۹۳) تر ۱۹۵].

الله تعالى د انسان لپاره له خارجي دنيا سره د اړيکي او له حقايقو څخه د آګاهۍ او ربوبي آيتونو د پوهېدو لپاره د شناخت او پېژندنې درې توکي او وسلې [ سمع، بصر او فؤاد ] ګومارلي دي. « فؤاد » چې له قلب څخه يو تعبير دی، کولی شي خاجي حقايقو ته له مرموزو توکو او جوارحو سره اګاهي او پوهېدنه ومومي او اتفاقاً پيغمبر اکرم، جبرئيل « شديدالقوي » چې په «افق اعلی» کې وو، د وحی پر مهال، د سر پر سترګو نه، بلکې د زړه د سترګو [فؤاد] په توسه وليد: « فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى ﴿۱۰﴾ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى ﴿۱۱﴾ أَفَتُمَارُونَهُ عَلَى مَا يَرَى ﴿۱۲﴾ وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى ﴿۱۳﴾ [ نجم ۱۰ ( ۵۳:۱۰) تر ۱۳].

پر پيغمبر د نازل شوي کتاب کليمو ته « آيت » او د هستۍ د کتاب اجزاء او برخو ته هم « آيت » وايي، آيت يوه نښه ده چې لاروی د موخې او مقصد پر لور هدايت کوي. پر دې بنا هر دواړه کتابونه، په جزء او کل کې، يوه هدف او موخې ته بلنه کوي. نو د لوستلو دوه ډولونه او د قرائت دوه طريقې لرو؛ د ليک لوستل او د هغه پالونکي رب د رموزو لوستل چې د هغه علم او قدرت داسې يو ترکيب تأليف کړی دی.

په دې تر تيب داسې برېښي [ والله اعلم ] چې هغه څه چې پيغمبر د هغه پر لوستلو مأمور وو، نه ددې سورت د لومړنيو پنځ ګونو آيتونو لفظونه، چې پخپله د لوستلو فرمان دی، او نه حتی د حمد سورت، چې د قرآن لنډيز ګڼل شوی، او نه نور آيتونه او سورتونه ... بلکې د « اسم رب» لوستل دي، هماغه رب چې هر څخه يې پنځول، هغه هم نه د «ربّ» د اسم « لفظ »، لکه د هاغو بی مسمّی او بې محتوا اسمونو او لقبونو په څېر نه چې عادتاً يې لولو. موږ الله د رحمن، رحيم، ربّ، عليم او قدير او ... په نومونو پېژنو او موږ ته امر شوی دی هغه د هغه له نېکو نومونو سره وبولو «وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا» [اعراف۱۸۰ (۷:۱۸۰)]، خو په دې سورت کې د هغه د بې شمېره نومونو له منځه وحی ته مخاطب، پيغمبر فرمان موندلی د «ربّ» په نوم ولولي « اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ ....».

۲ ـ «علق» ډېريو مفسرينو او ژباړونکو «پرنډه يا بسته او ترلې وينه» ګڼلې ده چې له علمي ليده سم بنسټ نه لري. مرحوم دکتور يدالله سحابي [چې د ځمکپېژندنې استاد وو] په خپل کتاب «قرآن مجيد، تکامل و خلقت انسان»[۲۰۲ مخ کې] له سريزو، پيليزو او کتنو سره، علق يې «له اړيکو او وابستګيو څخه يوه مجموعه» ذکر کړې ده. که هغه له تېرو موجوداتو سره د انسان جسمي او تشريحي اړيکه وي، او يا که په هر زمان کې له خپلو همنوعانو يا د خپلو عملونو سره د بنيادم اړيکې او پيوندونه وي. ددې تر څنګ «علقه» له جنيني پړاوونو څخه د يو پړاو نوم هم دی چې د نسلي طبيعي صفتونو له لارې، له تېر سره د ترون او اړيکي څرګندونه ده [ژينيتيک].

د « اِقرَاْ » د فرمان مخاطب بايد د پنځول شوي [ نړۍ ] له کتابه د « ربوبيّت » فصل ولولي؛ له پيله چې د هغه تدبيري لاس له خپلې ارادې او علم او قدرت سره د عالم او هستۍ وجود وپنځاوه او د خپل ربوبيَت تر چتر لاندې يې څيزونو ته، د وجودي کمال او رشد، ودې او روزنې لارښوونه وکړه، تر څو چې د علق په نامه له يوې ناڅيزې منشأ او تومنې څخه د انسان په نامه يو برتر موجود رامنځته شو. چې ورپسې نسلونو ته د تجربو او علمي زده کړو د لېږد لپاره د « قلم » تعليم او زده کړه وکړي، تر څو هغه علوم او آيتونه چې مخکې پرې نه پوهېده په تدريجي توګه پرې آګاه او پوه شي [ عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ]، او همدا راز دی د «اسم ربّ» لوستل.

۳ ـ دا نکته او اشاره د پاملرنې وړ ده چې د وحي په لومړني ځرک کې، يعنې په لومړني آيت کې چې پر پيغمبر د حرا په غار کې نازل شوی، د الله له نوم څخه مخکې د «ربّ» نوم راغلی دی او د ربوبيّت مهمترينه نښه«کرامت»، او د انسان ته د کرامت مهمترين څرګندوونکی، د جهان د شناخت او پېژندنې لپاره د قلم د کارولو استعداد ګڼل شوی دی. [اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ. الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ. عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ]

۴ ـ انسان يوازينی موجود دی چې کولی شي د خپل ژوندانه تجربې وليکي او مکتوب کړې او راتلونکو نسلونو ته يې ولېږدوي او له همدې لامله پر هغو موجوداتو چې، يوازې ژينيتيکي تجربې راتلونکي نسل ته لېږدوي، د ستر امتياز لرونکی دی.

كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى ﴿۶﴾

نه داسې نه ده [چې شاکر وي، بلکې] انسان [نامنونکی دی] خامخا سرغړونه کوي.

أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَى ﴿۷﴾

[په تېره بیا] همدا چې خپل ځان [له الهي پروا بې اړتیا او] وسمن ووینې.[۵]

إِنَّ إِلَى رَبِّكَ الرُّجْعَى ﴿۸﴾

[په داسې حال کې چې] قطعاً بې له شکه بېرته ستنېدنه د پالونکي څښتن په لورده [۶]

[=په هاغه ورځ باید ځواب ورکوونکی اوسي]

---

لکه څنګه چې وویل شول، ددې سورت د پیل پنځه آیتونه، لومړني آیتونه دي چې پر پيغمبر اکرم (ص ) نازل شوي دي، او وروسته، کابو د دوو کلونو په واټن، نور آیتونه ورپسې راځي. كَلَّا إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَى. كَلَّا داسې نه ده چې څنګه انسان انګېرلې. انسان بې خبره دی چې له کومه راغلی او چا خلق کړی دی. إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَى. إِنَّ تأکيد او ټينګار دی. يعنې انسان چې هغه مو خلق کړی او پنځولی دی او د روزنې، زده کړې او تعليم ځواک مو ورته ورکړی دی يقيناً طغيانګر او سرغړاوی دی. ليطغی، دا «لام» بيا هم د تأکيد او ټينګار لپاره دی. په تحقيق سره چې هغه طغيان کوي. «طغيان» يعنې له اعتدال او اندولتيا وتل دي. لکه هغه اوبه چې د لوښي له څنډو توی شې يعنې سر وکړي. يا د سيند طغيان چې له خپل بستره دواړو څنډو ته خارجېږي.

د «طغيان» لفظ په قرآن کې زيات راغلی دی لغتونه لومړی د طبيعي چارو په اړه کارول کېږي [چون بشر لومبی بايد ور سره آشنا شي] او وروسته مجازاً د معنوي چارو په اړه کارول کېږي د «طغيان» اصل کليمه چې په قرآن کې کارول شوې ده هماغه ده چې مثلاً د اوبو په اړه وايي: «لَمَّا طَغَى الْمَاءُ ...»[حاقّه/۱۱] اوبو طغيان وکړ. اوبه څنګه طغيان کوي؟ اوبه خو په واقعيت کې طغيان نه کوي چې يعنې د اوبو روحيه انقلابي شي او طغيان وکړي، خو کله چې په سيند کې د هغه له بستره زياتې اوبه پيدا شي مونږ وايو طغيان يې وکړ. همدا اوبه که په يو لوی سيند کې وي چې پراخ بستر ولري هيڅ مهال طغيان نه کوي، خو په دې وړه او تنګه مجرا کې طغيان کوي. انسان هغه مهال طغيان کوي، چې ثروت او شته منې پيدا کړي، همدا چې له فقر او بېوزلۍ رابهر شي او شته من شي او همدومره چې احتياج او اړمنتيا ترې لېرې شي، او همدا چې ووينې نورو انسانانو ته اړتيا نه لري، دا د هغه په روح کې يوه څپه رامنځته کوي چې

تاب يې نه لري، يعنې د دومره کچې ظرفيت نه لري، طغيان کوي. يو وخت وينې چې اوبو واخيست او يووړ يې. إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى. أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَى همدغه انسان چې مورږ يې توصيف وکړ همدا چې خپل ځان بې نيازه ويني سمدلاسه طغيان کوي او ډېر ژر طغيان کوي.

أَن رَّآهُ اسْتَغْنَى. أَن يعنى اگر [که]، رَّآهُ، خپل ځان ويني، اسْتَغْنَى، د استغنا احساس وکړي. په استغنا کې ځان ووينې، نه وايي هغه مهال چې خپل ځان غني ويني. استغنى د استفعال له بابه د «غنى» له ريښې ده. وايي هغه مهال چې انسان د ځان په اړه د بې نيازۍ او نه اړمنتيا ګومان وکړي. يعنې خيال وکړي چې غني شوی دی، يا د غني توب تصور او انګېرنه وکړي. يعنې ګومان وکړي چې مثلاً زه چې اوس ښه کور او ښه ژوند لرم او مالي ګټه مې هم زياته ده، نور نو زه له هر څيز او هرچا څخه بې نيازه يم او اړ نه يم، له خدای سره مې څه سر او کار نه شته له دين او معنويت سره هم همدا راز. لکه داسې چې الله تعالى «رزرو» دی د هغه مهال لپاره چې انسان له ستونزو سره مخامخ شي او بيا هغه پسې د خپلو ستونزو د حل لپاره ورشي يعنې الله يې د بدې ورځې لپاره ساتلی دی. معمولاً دا ډول دی چې بشر هر مهال بې پيسو، نشتمن او ضعيف شي خدای ورته يادېږي.

قرآن ددې موضوع په اړه چې مال او شتمني د انسان په فکر، اند، احساس او شخصيت اغيز کوي [په ځلونو خبره کړې ده.] البته قرآن دا د انسان د مذمت، غندنې او ترټنې په توګه ذکر کوي چې انسان ولې دومره کم ظرفه اوسي چې د ځلور پيسو درلودل يې، فکر، احساس او شخصيت عوض کړي: وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ. الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ افسوس دې وي پر هر بدژبي عيب لټوونکي [پېغور ورکوونکي ]! چې نور د سترګو په اشارو او غمزو مسخره کوي، ملنډې پرې وهي او تحقيروي. ورپسې د لامل ذکر يې کوي: هماغه، چې ډېره شتمني يې راغونډه کړې او شمېرلې ده [پرته له دې، چې د روا او ناروا حساب يې کړی وي]. او تل يې ګڼي چې پرون خومره وه او نن خومره ده او سبا به خومره وي، خومره ګټه يې کړې ده يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ انګېري، دا شتمي به يې تلپاتې کړي [او له مړينې به يې وژغوري]. كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ هېڅکله داسې نه ده [چې ګڼي يې] ژر به په "حطمة" [= ماتوونکی اور] کې وروغورځول شي!

قرآن د ابولهب په اړه څه وايي؟ دا چې ابولهب له پيغمبر سره مخالف، دښمني او مدعي توب کاوه ډېری يې همدا د هغه بډايتوب، شته منۍ او د ځان په اړه يې د استغناء انګېرنه وه تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ . مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ. تکيه يې په خپلو پيسو ده. او دا پيسې به ورته

هيڅ کار سرته و نه رسوي. وايي مات شه د ابو لهب دواړه لاسونه او هلاک دې شي! شتمني او لاس ته راوړني يې ورته ګټورې نشوې. سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ. وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ. فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ ژر به غرغنډه اور ته ورننوځي [او سوځي به]؛ پخپله او خسبه ښځه يې (هم). او په غاړه کې به يې د کجورو [د پوټکيو ځيره] رسۍ وي.

دا سمه ده چې په پرله پسې توګه د ډېريو مفسرينو نظر دادی چې وګړی چې کوم مهال خپل ځان مستغني او ناړمن وبولي طغيان کوي، او دا استغنا يې هم يوازې په قدرت ـ ځواک ـ او شتمنۍ او ثروت کې د استغنا په معنا اخېستې. په پخوا وختونوکې دا تعبير سم وو او اوس هم تر ډېره بريده په همدې منوال دی خو د وخت په تيريدو سره د انسان انګېرنې د تکامل په تناسب او د وخت او مکان په تناسب تغير کوي څرنګه چې موږ پوهېږو د قرآن کريم متن لکه د عامو کتابونو په څېر جامد نه دی او له دې ژمنې سره سم چې قرآن ترقيامته پورې د تطبيق او استفادې وړ دی او د يو سيّال متن په توګه د هر زمان او مکان په نظر کې نېولو سره نوي او تازه تعبيرونه را نغاړي.

نو څکه ويلی شو؛ وسمهال د بې نيازۍ او نه اړمنتيا انګېرنه عمدتاً په علم کې ده چې بشر طغيان ته هڅوي. د نولسمې پېړۍ له پيله، چې بشر احساس وکړ له دې وروسته خدای ته اړتيا او نياز نه لري، دده د زمانې بُت «ساينتيسم» [Scientism] شو، هماغه چې په «علمګرايي» [پوهنپالۍ] مشهور شوی دی. آيا داسې نه ده؟ چې نن ورځ ټول داسې انګېري چې علم او پوهې ټولې ستونزې او مسئلې ورته حل کړې دي، يا به يې حل کړي. وسمهال کابو ټول وګړي، په ځانګړې توګه له پوهې او علمي نظره پرمخ تللي هيوادونه، همدغه احساس او انګېرنه لري. ګومان کوي خدای ته نياز او اړتيا نه لري، څکه وايي چې د عقلانيت دوره ده، نوی او ماډرن عقلانيت، په ځان بسيا، په ځان چورلی او خپل بنسټي عقل. معتقد دي او په دې اند دي چې بايد د ژوند بنسټ د عقل پر اساس بنا شي. وايي هاغه څه چې بشر د خپل عقل په توسه تشخيص کړي او پوه شي هماغه سم دي او په خير اوصلاح يې دي، نو وسمهال علم او عقل راغلي خدای يې يوې څنډې ته کړی. وايي نور نو خدای ته اړتيا نه لرو [نعوذبالله]. وايي: دا خبرې ټولې د بشر د جاهليت د دوران دي هغه مهال چې نه يې شو کولی د علت او معلول په اړيکو پوه شي. که سېلاو راتله يا وبا راتلله يا زلزله کېدله، ويل به يې دا ټول د خدايانو له غوسې او قهر څخه دي. په خپل تصور کې به يې ځانته يو خدای جوړکړی وو او دهغه د بنده ګۍ پر درشل به يې سر ايښی وو. خو نور نو بشر نن ورځ هر څه د علم په توسه څرګند کړي دي او خدای ته اړتيا نه لري. همدا دی چې الله فرمايي بشر داسې

يو موجود دی چې که احساس وکړي اړتيا نه لري او بې نيازه دی طغيان کوي هاغه مهال نو نور يوازې د خپل ځان بنده دی، بل هيڅوک او هيڅ قانون نه مني.

لکه څنګه چې مو وويل: ددې سورت پنځه لومړني آيتونه چې يوه، واحده تګلاره او سياق لري او د قرائت، قلم او عِلم له لارې د انسان په روزنه او تربيت کې د پالونکي رب د «ربوبيت»نقش څرګندوي، دلته دا پوښتنه را اوچتيږي چې که علم او پوهه او سواد، ښوونځی او مدرسه انسان د ربوبيّت حقيقت او پيژندنې ته نږدې کوي، نو ولې قضيه بر عکس ده او په لووستو او باسوادو خلکو کې د بې دينۍ نسبت د اُمّي او نالوستو وګړو په پرتله ډېر دی؟

ددې پوښتنې ځواب له علم سره د څراغ د تشبيه په توسه ورکول کيږي. پخوانۍ تشبيه ده چې علم لکه د څراغ او رڼا په څېر دی چې سړي ته لار روښانه کوي. نو علم، پوهه او اړوند توکي يې لکه کتاب، قلم او بيان او.... يوازې لار روښانه کوي، لکه څنګه چې د څراغ والا غل، د خپلې خوښې توکي او څيزونه وړي، دنيا پال او دنيا طلب عالِم هم چې د علم په وسله سمبال دی د ولسونو ښکار کوي او تر نورو زيات هغوی غولوي او زېښي. چې تصادفاً قرآن کريم هم، په قرآن د هدايت موندل په دريو شرطونو: تقوی، ايمان او احسان مشروط او اړين کړی دی او هيڅکله يې هم، علم د هدايت شرط نه دی ګڼلی، [عيناً لکه څنګه چې څراغ خود په خود لاروی کوم ځای او پړاو ته نه رسوي او يوازې لار روښانه کوي].

بقره: الم، ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ. دا کتاب چې [د خدای کلام دی] په دې کې هېڅ شک نشته، متقيانو [او پروا کوونکو] ته هدايت کوونکی دی.

نمل : تِلْكَ آيَاتُ الْقُرْآنِ وَكِتَابٍ مُبِينٍ، هُدًى وَبُشْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ. دا د قرآن او څرګندونکي کتاب آيتونه دي. چې مؤمنانو ته هدايت او زيری دی.

لقمان : تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْحَكِيمِ، هُدًى وَرَحْمَةً لِلْمُحْسِنِينَ. دا د حکيم کتاب آيتونه دي. چې نېک چارو لپاره هدايت او رحمت دی.

هغه څه چې انسان ايمان ته کشوي، احساس او شعور او وېره او تشويش پر « سقوط » دی يا په قرآني اصطلاح د هلاکت په کنده کې له پرېوتو څخه « خشيّت » او ډار دی، هاغه څوک چې دا نه درک کوي او نه پوهيږي چې د سقوط په حال کې دی [ ثم رددناه اسفل سافلين ] او دا نه مني او باور نه لري چې د خپل عمر سرمايه او پانګه در ګرده بايلي او له لاسه يې ورکوي [ان الانسان لفی خسر]، هيڅ انګېزه نه لري چې خپل ځان په کړاو، زحمت او سختۍ کې واچوي [و لقد خلقنا الانسان فی کبد] او د تکليف او مسئوليّت ستغ ستونځ او موړ«عقبه» له

سختو او ځان منبودو کوښښونو [ اقتحام ] په منلو ووهي او سر کړي، هغه د ژغورنې لپاره له هرې هڅې او تلاش څخه د بې نيازۍ او د نه اړمنتيا [ استغناء ] احساس کوي او پر ارزښتونو او خبرتياو، چې هغه ته د اسارت له بندونو څخه د خلاصون خبرتيا ورکوي، له طغيان او سرغړونې سره د دنيا په دره او کنده کې ژوند غوره کوي او د هغې په جهنمي ځايګې او چاپيريال رو‌ږدی کيږي.

[فَأَمَّا مَنْ طَغَى، وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا، فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوَى (نازعات۳۷تر۳۹)] نو خو هر هغه چا چې طغيان [او سرکښي] کړې ده، او [پر آخرت يې] د دنيا ژوند غوره ګڼلی وي، نو بې له شکه دوزخ يې هستوګنځی دی.

خو کومه استغناء چې ددغه سورت په شپږم آيت کې [إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى، أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَى] د طغيان لامل ګڼل شوې ده، څرنګه چې د [الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ] پسې سمدلاسه راغلې ده، داسې بريښي چې د علم او قلم په اړه وي. ومو ويل چې دا څرګنده ده چې د تاريخ په تېرو اوږدو کې تل «ځواک او شته مني» د طغيان او سرغړونې لاملونه دي، خو لومړی دا چې سرغړوونکي او «طاغي» بېلګې او نمونې، ديني ارزښتونو ته د معتقدو او تسليمو پرګنو په نسبت [که څه هم خرافي او شرکي وي] معمولاً لږه کې او په اقليّت کې دي، دويم دا چې طاغوتانو به د درباري علماؤ او پوهانو په يو ځای کولو او پنډولو د خپل ځان لپاره تکيه ګاه جوړوله او د هغوی د علمي استثمار او ځېبناک په توسه به يې پر خپل ځواک او شتمنيو زياتونه کوله او د خپلواکو، متعهدو او ژمنو علماؤ او پوهانو څخه يې د بې نيازۍ او نه اړمن تيا احساس کاوه. دريم دا چې په تېرو دورانونو کې علم او قلم، د علمي اکاډېميو او د ديني او فلسفي درس او بحث د مجلسونو له محدودو او تړلو محفلونو پرته، د ولسونو او پرګنو منځ ته لار نه درلوده چې په څرګنده او بربنډه توګه د سرغړونې او طغيان لامل وګڼل شي. خو تر ۱۹ پېړۍ وروسته چې د اکتشافاتو او علمي اختراعاتو بهير ورځ تر بلې زياته بيړه او شتاب وموند او د اروپا د منځنيو پيړيو تياره د علم په نور رڼا او روښانه شوه، د پوهنپالنې [ساينتيسم ـ علم ګرائي[Scientism]] مکتب د کليسا د منحط مذهب پر ځای وګومارل شو او بشريّت ته يې له هر دين او مذهب څخه د بې نيازۍ او نه اړمنتيا [استغناء] زېری او احساس وبانبه. تر دې بريده چې علم، پخپله يو ستر بت شو چې بې شمېره مريان يې په درشل کې قرباني شول. او دادی چې «علم او قلم» په ډېره پراخه کچه د بشري ټولنو ټول اړخونه ډک کړي دي او لکه د بريښوونکي څراغ په څېر يې هر دواړه تګلارې «هدايت او ضلالت» تر ډېرو لېريو واټنونو روښانه او نوراني کړې دي، يو زيات شمېر کسان د هدايت په

روښانه «لار» کې د تللو پر ځای ترجيح ورکوي [لکه د حشرو او پتنګانو په څېر چې د شمعې ګرد چاپېره ګرځي، تاوېږي او سوځېږي]، د «علم» د بت ګرد چاپېره دومره طواف کوي، تر هاغې چې د هغه د قهر په لمبو کې وسوځېږي او په دې ډول د ټول تېر تاريخ پر خلاف، وسمهال له «بې خدايه» ټولنو سره مخامخ يو. که پرونی درد له «توحيد» څخه بې لارېتوب، انحراف او شرک وو، د نن درد، له خدای څخه د بې نيازۍ(استغناء) او بې دردۍ احساس دی، داسې يو طغيان دی چې له شلمې پېړۍ راهيسې يې، وسمهال په ډېرو سترو ټولنو کې، ميليونونو [ياميلياردونو] انسانانو ته پر «علم» د تکيه کولو په ادعاء له «خدای پالنې» څخه سقوط ورکړی او د «خدای» له هېرولو سره يې د «ځان» هېرولو ته کش کړي دي. که څه هم ځان پالنه، پوهنپالنه [علم پرستي] او د ايزمونو نور ډولونه او انحرافي نمانځنې او پالنې پخپله يو راز د«شرک» له ډولونو څخه دي.

إِنَّ إِلَى رَبِّكَ الرُّجْعَى. په داسې حال کې چې د ټولو ستنېدنه د الله لور ته ده. يعنې څه؟ يعنې بشر په ټوليز بهير کې واقع شوی دی. د اوبو له نهره يو څاڅکی په نظر کې ونيسۍ چې کله هغه څاڅکی و غوارې استقلال پيدا کړي او ځنډې ته لاړشي او په ساحل کې ځای پر ځای شي؛ هماغه شېبه د لمر وړانګې هغه، براس کوي. څاڅکی هاغه مهال چې په اوبو کې دی د اوبو او د جريان موندلو صفت مومي. دا څاڅکی له بارانه راغلی او باران له آسمانه؛ خو هغه اوبه چې په آسمان کې دي له کومه راغلي؟ له بحره. دبحر اوبه بخار شوي دي او آسمان ته پورته تللي او د باران په بڼه تبديلي شوي او بيا ځلې په طبيعت کې جاري شوي دي. اوس، دا تازه جريان او دا رودخانه يا سيند کوم لور ته روان دی؟ بيا ځلې د بحر لور ته.

د مولوي په وينا: آنچه از دريا به دريا مى‌رود از همان جا کامد آنجا مى‌رود

په واقعيت کې ټولې پدېدې د دوراني او څرخي [چورليز ] حرکت په حال کې دي او د الله لور ته ستنيږي. د اوسنيو علمي تيوريو له نظره، هاغه يو «بيګ بنک» چې وايي د جهان په پيل کې پيښ شوی دی، همدا راز د تکرارېدو په حالت کې دی. يعنې همدا اوس هم جهان د پرانېستو [ببرته کېدو] او پراخېدو په حال کې دی.

قرآن وايي موږ ببا ځلې آسمان ببرته ستنوو او ټولوو: يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاءَ، هغه ورځ چې آسمان راټولوو او تاووو، كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ [انبياء ۱۰۴]، لکه څنګه چې تعويذ تاووي او ټولوي. په پخوا وختونو کې به يې د پاچايانو ليکونه او فرمانونه د تعويذ په بڼه ليکل او تاوول او د لوستلو پر مهال به يې پرانيستل او له لوستلو وروسته به يې ببا ځلې تاوول . وايي دا د

آسمان لیک چې اوس پرانېستل شوی او لوستل شوی ببا ځلې به یې راټول کړو او تعوید به یې بند کړو. او دا په کهکشانونو کې تل او پرله پسې پېښېږي. هره برخه یې یو نوی تازه زیږون دی چې په ببا ځلې جمع او راټولېږي پرله پسې دا سیکل او دوران د هستۍ په جهان کې ادامه لري. اوس نو انسان څه ډول خپل ځان د ربوبیّت له دغه بهیر څخه بېل او په څنډه ګڼي؟ إِنَّ إِلَى رَبِّكَ الرُّجْعَى. نو ځکه ورروسته له هاغو پیلیزو آیتونو هم په ټینګار او پرته له کوم واټن یې راوړي دي چې: كَلَّا إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَى. أَن رَّآهُ اسْتَغْنَى. إِنَّ إِلَى رَبِّكَ الرُّجْعَى.

د لومړنیو آیتونو په ذکر سره وایي ستا د مبدأ او پیل تذکر ستا لپاره کافي وه چې د بنده ګۍ لار ونیسې. اوس دلته د معاد په تذکر: وایي ښه اوس تېر به پرېږدو؛ مګر ته نه پوهېږې چې ستا ستنېدنه ستا د خپل پالونکي څښتن [ربّ] لور ته ده؟ إِنَّ إِلَى رَبِّكَ الرُّجْعَى. له دې مخکې، دوه ځلې د «ربّ» کلیمه راغلې وه. دلته هم فرمایي: هاغه ربّ چې د ټولو موجوداتو ربّ دی، د ټولو ستنېدنه د هغه لور ته ده. مګر کېدی شي له دې نظامه فرار وکړې؟ چېرته به لاړشې؟ مګر آیا بل ارباب او بله دنیا او بل خدای او خالق شته؟ ټول په همدغه یو واحد جریان کې قرار لري او بهیږي. ټول د هغه لور ته حرکت کې یاست: إِلَى رَبِّكَ.کېدی شي ځینې داسې وانګیري چې خدای په یوه ځای کې ناستون یا قرار لري او موږ د هغه لور ته روان یو. داسې نه دی. زموږ حرکت، زموږ د ودې او کمال حرکت دی، چې ناشونی دی په یوه ځای یا یو برید کې تم شي. له دې جریان او بهیره وتل ناشوني دي. نو رجعت، د «طغیان» د منطق باطلوونکی دی، او استغناء چې د غنی د استفعال له بابه دی له داسې یوه حالته حکایت کوي چې مستغني په کاذبانه او دروغجنه توګه دا ډول احساس له ځانه څرګندوي او دا له بې نیازۍ [غناء] او نه اړمنتیا پرته دی. د انسان «دځان د نه اړمنتیا لیدنې» طغیان سمدلاسه د «إِنَّ إِلَى رَبِّكَ الرُّجْعَى» په ټینګار نفې کوي. هغوی چې طغیان کوي داسې انګېري چې د حق د حریم او برید په پرې کولو او ماتولو آزادېږي او وده او رشد کوي، په داسې حال کې چې حریم او حدود، د هغه له نفساني هلاکت څخه ساتونکی او حافظ دی. یو خروشان، سرشار، مست او غړمبېدلی سیند که په خپل بستر، خوړ، او لګښ کې وبهیږي په پای کې دریاب او یا بحر سره یو ځای کیږي او که نه، نو له خپلو حدودو څخه په طغیان کولو، بې لارې ځي او فصل او نسل تر خپل سیلاو لاندې هلاک، ړنګ او وېجاړوي. مخلوق هم لکه د رود یا سیند په څېر د الله لور ته روان دی [اليه ترجعون] او هغه ته بېرته ستنیږي، د اوبو بړاس چې له بحره پورته کیږي او د وربځې له منځه پر یوه لېرې سیمه اوریږي، د ځمکې له ردو او طبقو یا د غرونو له درزونو او سوریو، درو او خوړونو څخه تیریږي او په پایله کې خپل لومړني ځایګي ته

ورستنيږي او له سره نوی مدار او پړاو پيلوي. د اوبو څاڅکی همدې لپاره پنځول شوی دی چې د هستۍ په صحنه کې خپل نقش او رول ولوبوي که نه نو اوبه نشته. انسان هم ددې لپاره چې انسان اوسي د الله لور ته رجوع او ستنېدو ته اړ دی. ځکه چې هستي او شتون يې د هغه په لور دحرکت او يون له «نياز» او اړمنتيا حکايت کوي. موږ ټول د الله پر لور «تګ» ته نيازمند او اړ يو او يوازې هغه دی چې بې نيازه، نااړمن او ستايلی دی:

«أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ». [فاطر (۱۵)]

ای خلکو، تاسو ټول [د ودې او کمال په مسير کې] الله ته اړ ياست، او يوازې الله دی چې غني [نا اړمن او] ستايل شوی دی.

موږ ټول د الله يو او د «هغه پر لور» ستنېدونکي يو«انا لله و انا اليه راجعون».

---

## ډيورتنۍ تشريح لنډيز:

۵ ـ ددې سورت پيليز پنځه آيتونه چې د «ربوبيّت» نقش او رول د قرائت او قلم او علم له لارې څرګندوي، دا پوښتنه رامنځته کوي چې که علم او پوهه انسان د «ربوبيّت» پېژندنې ته نږدې کوي، ولې د درس لوستو باسوادو او زده کړيالو په منځ کې د بې دينۍ نسبت له بېسوادو کسانو ډېر دی!؟ حقيقت دادی چې لکه څنګه چې څراغ والا غل غوره خيزونه وړي [دزد با چراغ گزيده تر برد کالا]، قرآن هم [د دريو سورتونو بقره، نمل او لقمان په پيل کې] قرآن ته، هدايت موندل په دريو شرطونو: تقوی، ايمان او احسان مشروط او اړين کړی دی، خو هغه استغنا چې ددې سورت په شپږم او اوم آيتونو کې «كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى. أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَى» د طغيان او سرغړونې لامل ګڼل شوی، څرنګه چې د « الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ. الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ» پسې راغلې ده داسې برېښي چې د علم او قلم په اړه وي. له ۱۹ پېړۍ وروسته چې د علمي اکتشافاتو او اختراعاتو بهير ورځ تر بلې بيره او تلوار وموند او د اروپا د منځنيو پېړيو تياره د علم په توسه روښانه شوه، علم پالې مکتب [Scientism] له دين او مذهب څخه د بې نيازۍ [استغناء] وعده ورکړه. تر دې چې علم پخپله ستر بُت شو. چې وسمهال له «بې خدايه» ټولنو سره مخامخ يو او له خدايه بې نيازي [نه اړمنتيا][استغناء]، يو طغيان يا سرغړونه ده چې د ۲۱ پيړۍ په سترو ټولنو کې يې، ميليونونه انسانان د خدای په «نسبان» او هېرولو سره د «خپل ځان» نسبان او هېرولو ته راکښلي دي.

۶ ـ د انسان طغيان «د بې نيازۍ او نه اړمنتيا احساس» سمدلاسه د «إِنَّ إِلَى رَبِّكَ الرُّجْعَى» په تأکيد نفي کوي. طغيانګر او سرغړاندی انګېري چې د حق د حريم په پرې کولو آزاديږي، حال دا چې دا حريم او حدود له نفساني هلاکت څخه محافظ او ساتونکی دی. که سرشار او مست رود که د خوړ او لګښ په بستر کې و بهيږي، په پايله کې به له درياب يا سيند سره يو ځای شي، او که نه په سرغړاندۍ به بې لارې ځي او کرونده، فصل او نسل تباه کوي. مخلوق لکه د يو رود په څېر د الله لور ته روان دي [اليه ترجعون] او هغه ته ورستنيږي، د هاغه اوبو بخار چې له دريابه راپورته شوی دی او د وريځو د بارو له زړه په ليرې سيمه کې

اوربدلي، د ځمکې له طبقو، ردو او لايو يا د غره او درې او رودخانو له سوريو تېرشوې، په پای کې خپل لومړني ځايګي ته ببرته ستنيږي او تازه نوی مدار پيلوي.

[آنچه از دريا به دريا ميرود ـ از همانجا کامد آنجا ميرود]. انسان هم د الله پر لور رجوع ته اړمن دی او هستي يې د هغه پر لور د حرکت له«اړمنتيا»حکايت کوي. موږ ټول د الله پر لور د [تګ] اړمنان يو او يوازې هغه دی چې بې اړمنتيا او ستايل شوی دی [يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ـ فاطر۱۵ (۱۵:۳۵)]. موږ ټول د الله يو او «د هغه پر لور» ستنيږو[اناالله وانا اليه راجعون].

---

أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى ﴿۹﴾

آيا ودې ليد هغه څوک، چې منع يې کوله،

عَبْدًا إِذَا صَلَّى ﴿۱۰﴾

[يو] بنده لره، کله چې نمونځ کوي، (۷)

---

أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى. عَبْدًا إِذَا صَلَّى. د «أَرَأَيْتَ» کليمه په اصل لغت کې يعني « آيا ودې ليد؟ »، «آياپوه شوې؟». «رأى» هم د اِبصار په معنا راځي او هم د علم په معنا. خو د « أَرَأَيْتَ » په بڼه په عربي ژبه کې پخپله يوه ځانګړې معنا لري او هغه دا ده چې: اَخْبِرْنِي «ماته ووايه!» چې موږ په پښتو کې هم همداسې اصطلاح وايو. له «ماته ووايه» څخه موخه واقعاً دا نه ده چې وغواړې يو څوک له يوې موضوع په اړه هغه ته اطلاعورکړي، بلکې دا يو تعبير دی چې د تعجب پر مهال ويل کيږي.

آيا ودې لېد هغه څوک چې نهي يې کوله او منع کول يې [ماته ووايه د هاغه چا په اړه چې يو بنده چې د خپل خدای عبادت کوي منع کوي] عَبْدًا إِذَا صَلَّى. هغه بنده چې الله ته يې مخه کړې وه. ـ صَلّی، يوازې همدا لمونځ نه دی. صَلّی، الله ته مخه کول دي. له همدې لامله دی چې «صلات» عمدتاً په قرآن کې د «اقامه» له کليمې سره راځي. «صلّی» د «تولّی» په مقابل کې دی او «تَوَلّی» شا کول دي او صلّی مخ کول او مخه راوړل دي، وصل کېدل دي-. «عبد» هم هغه څوک دی چې وجود يې الله ته رام شوی، الله ته تسليم شوی او منونکی شوی وي.

آيا پاملرنه کوې هغوی ته چې هاغه کسان منع کوي چې زړه يې الله ته پرانېستی دی او هغه ته يې مخه کړې ده؟. وايي دغو طغيانګرو وګړو که يوازې پخپله يې طغيان کولی بنايي دومره زيات مهم نه وای، خو هغوی پر دې بسنه نه کوي او نور هم الله ته له مخ کولو منع او نهي کوي. ځکه چې د خدای نمانځنه له بت نمانځنې سره تضاد او تعارض لري؛ د ابوجهلانو او

ابوسفيانانو او ددوی په څېر د نورو ديکتاتورانو له واکمنۍ او طبقاتي منافعو سره مغايرت لري. هغوی دا نه شي زغملی چې د خدای نمانځنه په ټولنه کې دود شي. ولې؟ ځکه چې هغه مهال به بيا د ديکتاتورۍ، فردي او ټولنيزو استبدادونو تغر ټول شي. دا په واقعيّت کې يو طبيعي قانون دی. تل ددې لپاره چې خلک حماقت کې وساتي بايد يو لړ فکرونه هغوی ته ديکته کړي. نو پر دې بنا وايي چې ددوی د طغيان کار تر دې بريده غځېږي چې خلک الله ته له مخ کولو نهي او منع کوي. «ارايت الذين ينهی».

هېښتيا له هاغي قطرې چې د رود له غاړې په طغيان سره، پر يوه څنډه تم او ساکن او د درياب پر لور له حرکته محرومه، بله قطره له تلو منع کړي او سکون او تم کېدو ته يې بولي. سره له دې چې هغي قطرې هستۍ ببنونکي بهير ته خپل تن ورکړی وي [عبادت] او په ټوله کې په پرله پسې توګه يې د مبدأ او ددغه بهير لورته مخه کړې وي[صلوت]..«عبداً اذا صلی».

د دغو آيتونو د نزول د شأن په اړه په روايتونوکې راغلي دي چې پيغمبر اکرم (ص) به راتله په مسجدالحرام کې به يې عبادت کاوه، ابوجهل او د هغه په څېر نورو به چې طغيانګر ول، سربېره پر دې چې پخپله يې نه غوښتل حق ته مخه کړي او حق پالنه وکړي ويل به يې چې موږ بايد پرېنږدو دا شخص داسې کارونه په مسجدالحرام کې وکړي. راتلل به او مانع کېدل او پيغمبر ته به يې مزاحمت کاوه.

نو دلته له بنده څخه مطلب پخپله رسول الله (ص) دی په قرآن کريم کې په دغه طريقه د رسول اکرم (ص) ذکر په ډېريو ځايونو کې راغلی دی لکه [(اسراء ۱) «سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى ... سپېڅلی [بې عيب او بې نقصه] دی هغه [خدای] چې خپل بنده [محمد] ته يې يوه شپه له مسجدالحرام څخه مسجدالاقصی ته سير [او ګرځونه] ورکړه.....»] او [(کهف ۱) «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ... ستاينه [په ټوله کې] هغه الله ته ځانګړې ده چې دا کتاب[=قرآن] يې پر خپل[غوره] بنده نازل کړ...»] او همدا راز [(جن ۱۹)«وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا. او همدا چې د الله بنده [= د اسلام پيغمبر] راپورته شو چې [فقط] هغه راوبولي، نژدې وو چې ټول [مشرکين] د هغه پر ضد راټول شي »]. له دې دا څرګنديږي چې دا د ميني خاص انداز دی چې په دې طريقه الله تعالی په خپل کتاب کې د خپل استازی محمد (ص) ذکر کوي.

د عبدا نکره راتلل د شخص د مقام د درناوي او عبوديت د ستايلو لپاره دی. د ينهی مطلق راتلل او له عبدا او اذا له ظرف څخه يې بېلوالی، په ښکاره د مفعول د نهي او تقدير په اطلاق کې او د مقدر او مطلق څخه د مفعول بدلوالی او څرګندوالی، او د نمونې د وړاندې کولو

لپاره دی: آيا هاغه څوک دې وليد چې طغيان يې تر دې بريده رسېدلی چې منع کوي – هر څوک له هر څه چې زړه يې غواړي، ان تردې چې يو بنده منع کوي چې د لمانځه په حال کې دی او د خپل ربّ د تعظيم او درناوي لپاره او د هغه په ذکر يې خپل سر ټيټ کړی دی او د خپل پالونکي څښتن په وړاندې د عاجزۍ او خضوع تندی پر ځمکه ږدي.؟! خو په پای کې دا د طاغي طغيان دی چې د څښتن تعالی د بندګانو پر ځان او مال له واکمنۍ څخه زيات، له هغوی څخه د عقيدې او عمل آزادي اخلي، او د خدای تعالی له بندګۍ يې منع کوي، ان تر دې چې خلک او د خدای تعالی بندګان خپلې بندګۍ ته مجبور کړي. د دغه طاغيانه خوی او روش مصداق يوازې ابوجهل او د قريشو او عربو سرکښه او طغيانګر مشران نه ول، بلکې په هر ځای او هره زمانه کې چې د توحيد فطري نور غلی شو او د طغيان لپاره لار پرانېستل شوه، يو شمېر کسان، خلک د خدای له بندګۍ منع کوي چې د خپلې بندګۍ جغ د هغوی پر غاړه کېږدي. په هاغه مهال چې دا آيتونه نازل شول په ټوله نړۍ کې د انسانانو دا راز ذليلتوب، پستي او ګډوډي د رسول اکرم (ص) په سترګو کې په څرګنده توګه ښکارېدل او دا آيتونه همدا وحشتناکه ننداره د رسالت په پيل کې حضرت رسول ته څرګندوي چې هغه حضرت د قرآن په وړانګو کې د انسانانو ژغورنې ته وهڅوي او د طغيان او بت تراشلو او بت پالنې د له منځه وړلو لار څرګنده کړي. « أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى ....»

۷ ـ د«صلوه»معنا هماغه دالله لورته مخه کول او هغه ته تسليمېدل دي چې په پښتوکې لمونځ ژباړل کېږي.

أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ عَلَى الْهُدَى﴿۱۱﴾

آيا ودې ليدل؟ [څه وايې] چې که هغه پر هدايت وي،

أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَى﴿۱۲﴾

يا [خلك يې] تقوا [ = الهي پروا] [اوپرهېزګارۍ] ته بللي وي،

أَرَأَيْتَ إِنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّى﴿۱۳﴾

آياودې ليدل؟[څه وايې]که پخپله يې[يو حقيقت]دروغ ګڼلی اومخ يې ګرځولی وي!؟

أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَى﴿۱۴﴾

آيا نه پوهېږي، چې الله يې [ناسم چلن]ويني؟

أَرَأَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَى. أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَى. د دغه أَرَأَيْتَ د فعل مخاطب لکه د مخکيني فعل په خبر پخپله شخص رسول اکرم (ص) يا د خطاب وړ هر شخص او ددغه كَانَ د فعل مفعول، او اسم هماغه طاغي يا ناهي انسان دی. د کان د فعل ظاهر د تېرې ثابتې وضعې خبر دی او على الهدی پر هدايت ګومارنه او استقرار ښرګندوي. يا شايد د أَرَأَيْتَ مخاطب له صلاة څخه طاغي او ناهي وي او د هغه مفعول چې د کان فعل، اسم دی عبدا، وي او يا شايد ددې آيتونو مخاطب مختلف وي، لکه د قاضي په څېر چې کله د مدعي لور ته مخ اړوي او کله متهم ته.

همدغه انسان چې کوم مهال خپل ځان نااړمن، بې نيازه او ځواکمن وويني طغيان کوي تر دې بريده چې غواړي د بندګانو پر اندونو او عملونو فرمان وچلوي او د خدای له بنده ګۍ څخه يې منع کړي که د هدايت نور او د پالنې چاپېرېال يې موندلی وای هرو مرو پر خپل فطري هدايت ثابت پاتېده يا که پر داسې هدايت ثابت پاتې شوی نه وای د خپل ځان او نورو د اصلاح لپاره به يې پر تقوا امر کولی.

يعنې نو څه ډول هغه نهي کوي په داسې حال کې چې که هغه خپله لار موندلې وي او پر خپل ژوند ښښونکي بهير سپور شوی وي «ارايت ان كان على الهدی» او يا [که و نه شي کولی له بهير سره يو ځای شي او د پېښو څپو هغه يوې څنډې ته اچولی وي]، نورو قطرو ته چې د رودخانې له منځه له لېرې کېدو او څنډو ته له ګوښه کېدو سره مخامخ دي، د بهير په چورليز کې د ځان په ساتنه [تقوی] فرمان ورکړي «او امر بالتقوی».

أَرَأَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَى. و مو ويل چې دا جمله أَرَأَيْتَ په ښتو کې ډېره ښرګنده معنا نه لري. أَرَأَيْتَ يعنې ښه، نو اوس څه واياست يا څه کوئ که هغه د هدايت پر مسير يا تګلاره برابر شوی وي، ددې پر ځای چې طغيان وکړي. أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَى. يا خلکو ته پر تقوی توصيه وکړي، ددې پر ځای چې خلکو ته پر شا کولو توصيه وکړي.

أَرَأَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّى. يا ددې پرعکس، څه واياست او په کومه سترګه يې ګورئ که هغوی د على الهُدی، [د هدايت د لارې] غوره کولو پر ځای، هغه دروغ وګڼي او د تقوا، پر ځای تولّی ښکاره کړي؟ دا د انسان ډول ډول وړتياوې دي چې قرآن يې بيانوي. ځکه چې موږ تل ليدلي او وينو چې يو شمېر په تقوا پسې او د هدايت په تګلاره کې دي او يو شمېر نور د هغوی پر خبرو نهي او تکذيب کوي او د هغوی خبرو ته شا کوي.

خو پر خپل طبيعت طغيان کړې او ښنګ ته شوې قطره، همدا ډول له ځېل، لج او جحود له مخې، د رود له تلپاتې بهيره او د هغه له حرکت، موخې او هدف څخه انکار کوي او هغه ته شا کوي « أَرَأَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّى .»،

أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَى. آيا دوی نه پوهېږي چې الله ددوی پر چارو ناظر او څارونکی دی او ټول څیزونهويني؟ د يعلم فعل مضارع راغلی او «اَنّ» هم تأکيد او ټينګار دی. آيا دوی نه پوهېږي چې ټول د الله په نظام کې واقع دي؟ نه پوهېږي چې په شا کولو او د توحيد پر ضد له حرکت سره، دوی د هستۍ له جهانه نه غايبېږي؟

له دې څخه غافل دي چې دې حرکتونو ته جريان ورکوونکی او بهوونکی، د هغه د څنګ ته کېدلو په وړاندې بې تفاوته او بې پامه نه دی، ځکه هغه چې له خپل اصله لېرې پاتې شوی دی الله تعالی يې ويني «الم يعلم بان الله يرى».

موږ پوهېږو چې د قريشو کفار، مشرکان ول، خو مشرکان په عبادت او ربوبيت کې ول، او په ذات او خالقيت کې مشرک نه ول؛ يعنې هغوی له الله څخه د ځمکې او آسمانونو د خالق په توګه انکار نه درلود. البته د قريشو ټول خلک په يو اند نه ول، د هغوی په منځ کې د مادي مسلک پلیونې هم ول چې اصلاً يې الله نه مانه. قرآن [د داسې افرادو له قوله] نقل کوي: [...مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ ... ژوند همدغه دنيوي ژوند دی، چې يوه ډله مو مري او بله يې ځای نيسي او دا (طبيعت، روزګار او) زمانه ده، چې موږ هلاکوي، «جاثيه/۲۴»] خو ډېری مشرکين، الله ته معتقد ول، خو هغه ته د اِلهُ الآلهه او رب الارباب په عنوان معتقد ول. هغه ته يې عبادت نه کاوه، بلکې عبادت يې د هغه لپاره لغو، بيهوده او نا جايز ګاڼه. عبادت يې د بتانو لپاره کاوه. منتها دا يې ويل: موږ د بتانو نمانځنه کوو او هغوی زموږ کارونه سموي. [... مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى... ځکه يې نمانځو، چې الله ته مو ورنژدې کړي ... (زمر/۳ )]. نو له همدې لامله د قرآن په ډېريو آيتونو کې راغلي [وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ... او که له دوی پوښتنه وکړې «د آسمانونو او ځمکې خالق څوک دی؟» وايي: الله .... (لقمان/۲۵، زمر/۳۸)].

همدا ځای دی چې قرآن وايي: أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَى. آيا واقعاً دوی نه پوهېږي چې متعال خدای په ټول چارو پوه او عالم دی؟ يعنې پخپله پوهېږي چې دا کارونه د طغيان، حسادت او د خپلو رذيله صفتونو له مخې کوي نه د واقعي عقيدې له مخې.

او دوی ولې بايد پوه نه شي: چې هره لار چې په خپله خوښه غوره کوي او هر څه او هر لور ته چې مخه کوي او له هر څه چې مخ ګرځوي او هر يو اند چې لري او په هره لار او روش چې مخته ځي او هر يو چار چې سر ته رسوي، الله يې ويني او آثار او اغېزې پرې ترتيب او برقراروي او پايلې ته يې رسوي او پای يې دا ډول ده چې:

كَلَّا لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ﴿١٥﴾

هېڅکله داسې نه ده [چې دا بې لارې له جزا پرته وي]، که لاس وانخلي، د هغه د ذلت په تندي (۸) به يې را کاږو.

نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ﴿١٦﴾

[هماغه] دروغجن ورانکار تندی!

---

كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ. کلاّ بيا تکراروي چې داسې نه ده چې ګومان يې کړی. قضيه په دې ډول نه ده چې هره چاره يې چې زړه وغواړي، وکړي او هيڅ به هم ونه شي او په جهان کې به هيڅ کومه پېښه رامنځته نشي. نو که لاس وانخلي: لَئِن لَّمْ يَنتَهِ، پای ته يې و نه رسوي، تم نه شي، لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَه. او دلته خبره ددې «ناصيه» پر سر ده. «ناصيه» ظاهراً تندی دی، د قرآن په تعبير، د ټولو ژوو او خوځندوو تندی د الله په لاس کې دی [ إِنِّي تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمْ مَا مِنْ دَابَّةٍ إِلَّا هُوَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا.....هود ۵۸ (۱۱: ۵۶)، ما پر هاغه الله توکل کړی دی، چې زما او ستا، پالونکی څښتن [او واکمن ] دی داسې هيڅ خوځنده نشته مګر دا چې تندی (=دچارو واګې ) يې د هغه (الله) په لاس کې دي....].

په ځينو قرآني ترجمو کې ليدل کيږي چې ددې آيت په ژباړه کې يې ليکلي چې: که له خپله کاره لاس وانخلي، د سر له ويښتانو به يې ونيسو. ويلي يې دي چې دا يو کنايي تعبير دی چې دا د سړي له نهايت خوارۍ، بېچارګۍ او سپکاوي په معنا دی چې د سر له ويښتانو يې ونيسي او په راکښلو راکښلو يې يو لور ته يوسي. په داسې حال کې چې دا څرګنده ده چې: کله چې وغواړي يو څوک په زور کش کړي له لاس يې نيسي او راکاږي يې نه د هغه له ويښتو. او هغه څوک چې کل يا ګنجې وي او پر سر يې ويښته نه وي دا کار خو ورسره کوروټ نه شي کېدای! دلته وايي که له خپله طغيانه لاس وانخلي د خپلو قاهرو قوانينو په توسه هغه ځای ته چې ښايي او اړين دی چې بايد ورسول شي، په سختۍ کشوي «کلا لئن لم ينته لنسفعا...»، ځکه چې له ټللو څخه د نورو منع کول او د راحت، سوکالۍ او رفاء په ژمنه د هغوی غولول [کذب] دی او د ځان او نورو ښنګ ته کول او له لارې اړول [خطا]، «ناصيه کاذبة خاطئه». د «ناصيه» کليمه د تندي د يوې برخې په معنا ده. هوکې، له تندی يې نيسو يعني څه؟ د ښاغلی عبدالعلي بازرګان په وينا: د ناصيه کليمه له «نَصّ» څخه ده. چې د لغت په کتابونو کې يې البته يوه معنا هماغه نيول او د يو چا بې حرکته کول د هغه د تندي پر

وینبتو له چنګ اچولو سره دی. خو دا یې تړوله معنا نه ده المنجد ددې کلیمې په معنا کې لیکلي: تورتم کېدل یا تور او کرغېړن کېدل؛ د نغري ډبره. هماغه ډبره چې په کلیو او بانډو کې پرې هرکاره یا چای جوش ږدي. دا ډبره د اور د لوګي له اغیزه تړوله توربږي. یعنې بله معنا یې تودېدل [داغېدل] او نبنان وهل یعنې توربېدل دي. بله معنا یې د ختو او خړو پاکول دي. یعنې د هغه څیز پاکول او ربېځ کول چې بیخ ته ناست وي یعنې کونوبی وي، لکه د رودخانې ختې او خړې. تړول موردونه چې په دې کلیمه کې ذکر شوي، له تور، تیاره او کرغېړن سره اړیکه لري. لکه جامه یا ټوټه چې رنګ یې تیاره غونی او توربخن کړي؛ یا د لمر تور داغونه؛ یا د غوا پر مخ تور خالونه. لنډه دا چې د هغې تړولې معنا ګانې یوډول د رنګ له بدلون او توربخن کېدلو څرګندونه کوي.

نو، د هغه د ناصیه له توربخن کېدو سره هغه نیسو. پوهېږئ چې د انسان شخصیت د هغه د مغز په «کُورتیکس» [Ceberal Cortex] کې دی. د مغز مخکینۍ برخې ته کورتیکس وایي. د انسان تړول ښه او بد حالتونه د مغز دغې برخې پورې اړه لري چې د تندي شاته واقع دی. [په دې اړه توضیح ددې لیکنې د پای په دویم انځور کې لېدلی شئ]

مرحوم طالقاني هم، پرته له دې چې ښايي له دغې علمي مسئلې آګاهي ولري، تقریباً همدغه برداشت یې له دې آیت څخه درلودلی دی. او هغه دا چې: پست او ناوړه عادتونه، د ګنهګار طغیانګره څېره بل منګ، توره او ناوړه ګرځوي او د هغه پر ادراکونو او شعور بر لاسي کېږي او د هغه د اند وجهه او مخه اړوي او هغه «قبض» کوي. ډېر په زړه پورې دی چې نوموړي ښاغلي له هاغه ځانګړي لید سره چې درلود ښه پاملرنه کړې وه چې له «ناصیه» څخه موخه یوازې دا د تندي مخامخ هډوکی نه دی، او دلته د انسان د شخیت په معنا دی چې توربخن او کرغېړن کېږي، نه دا چې الله د هغه د تندي له وېښتو ونیسي.

الله تعالی د رحمن سورت په ۴۱ آیت (۴۱:۵۵) کې فرمايي [يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ. مجرمان له خپلو څېرو (او بڼو) پېژندل کېږي او په تندي او ګامونو (=نیتونو او کړنو یې) نیول کېږي؛].

د سورةالرحمن د ۴۱ آیت پر بنسټ په قیامت کې له تندي سره [د فکر پر بنسټ د نیول شوو تصمیمونو او پرېکړو] او د هغوی پر ګامونو [عملي کړنو] تر مؤاخذې لاندې نیول کېږي

پر دې بنا «اخذ بالناصیه» [د ناصیه له لامله د انسان کیفر، تنبیه او مؤاخذه] چې ددې سورت په ۱۵ آیت او د رحمن سورت په ۴۱ آیت (۴۱:۵۵) کې راغلی دی، باید د انسان عمدي خطاګانو او شخصیتي عیبونو ته اشاره وي. [والله اعلم].

پر دې هم پوهېږو چې الله تعالی کله چې د ځان په اړه په «موږ» تعبير کوي، ټول سيستم او نظام ته اشاره لري. يعني وايي پرطبيعت او پنځ دا ډول يو قانون واکمن دی. لکه څنګه چې د طبيعت په ژبه ويل کېږي هاغه څوک چې د ډېر وخت لپاره له ضرورته زيات قند او غوړ مصرف کړي، ورو ورو موږ د دغه سړي رګونه نيسو. الله چې وايي «موږ»، يعنې په هاغه نظام کې چې د هغه په فرمان پنځول شوی او برقرار شوی، په دغه الهي نظام کې به هر چلن او هره کړنه يوه پايله رامنځته کوي.

مولانا جلال الدين بلخي دا معنی چې څه ډول د انسان شخصيت توربخن او کرغېړن کېږي په ښکلې بڼه بيان کړې ده:

آن يکی می‌گفت در عهد شعيب — که خدا از من بسی ديدست عيب
چند ديد از من گناه و جرم‌ها — وز کرم يزدان نمی‌گيرد مرا

د شعيب په زمانه کې به يو چا ويل چې خدای تعالی له موږ څخه دومره ډېر عيبونه او خطاګانې ليدلي خو موږ نه نيسي ځکه چې الله کريم دی نو، اوس چې هر کار مو زړه غواړي کوو يې او خدای هم زموږ په کار پورې کار نه لري. نو دا چې وايي الله موږ نيسي او مؤاخذه کوي کوم اساس او بنسټ نه لري، ځکه چې الله کريم دی او تېرېږي

حق تعالی گفت در گوش شعيب — در جواب او فصيح از راه غيب

الله تعالی ډېر په واضح او څرګنده توګه د غيب له لارې شعيب ته وويل چې ده ته ووايه:

که بگفتی چند کردم من گناه — وز کرم نگرفت در جرمم اله
عکس می‌گويي و مقلوب ای سفيه — ای رها کرده ره و بگرفته تيه

دا چې ته وايې هر څه دې چې کړي او الله له خپل کرمه په جرم کې نه يې نېولی، ته له قضيې سرچپه او معکوسه لېدنه کوې چې داسې وايې، تا د حق لار پرېښودې ده او په بيديا او بيابان کې سرګردان يې.

چند چندت گيرم و تو بی‌خبر — در سلاسل مانده‌ای پا تا به سر

ماپه ځلونوځلونو ته نېولی يې او ستا پرلاسونواو پښو مې زنځيرونه تړلي دي اوستا پام نه دی.

زنگ تو بر توت ای ديگ سياه — کرد سيمای درونت را تباه

لکه د هماغه تور نغري په څېر چې و مو ويل. «ستا زنګ پر تا» يعني توروالی پر توروالي د نغري په جرم کې او دهغه تر خوراک لاندې راغلی دی

بر دلت زنگار بر زنگارها — جمع شد تا کور شد ز اسرارها

زړه دې دومره زنګ نېولی، چې نور نشي کولی پټ اسرار ووينې؛ د اسرارو د لېدلو په اړه ړوند

شوی يې.

گر زند آن دود بر ديگ نوی آن اثر بنمايد ار باشد جوی

که دېگ نوی وي او د اوربشې د يوې دانې په کچه لوگی پرې کښېني سمدلاسه څرگندېږي.

ز آنکه هر چيزی به ضد پيدا شود بر سپيدی آن سيه رسوا شود

څرنگه چې هر څيز د هغه د ضد په توسه ښه پېژندل کېږي. هر يو د هغه د ضد رنگ تر څنګ ډېر ښه او په بهتره توگه لېدل کېږي.

چون سيه شد ديگ پس تأثير دود بعد از ين بر وی که بيند زود زود

خو کله چې دېگ په بشپړه توگه تور شو، نور له دې وروسته په سمه توگه اټکل کېدی نه شي چې هره ورځ تر بلې زيات مخ په تورېدو دی، خو که مثلاً يو کال وروسته ورته ځير شو پوهېږو چې څومره له پخوا تور شوی دی.

مرد آهنگر که او زنگی بود دود را با روش همرنگی بود

مرد رومی کو کند آهنگری رويش ابلق گردد از دودآوری

پس بداند زود تأثير گناه تا بنالد زود گويد ای اله

که يو پښ چې مثلاً تور پوستی وي او پر څېره يې لوگی کښېني لوگی پرې اصلاً نه ښکاري؛ خو که رومي وي، سمدلاسه توروالی پرې ښکاري. د «رومي» مطلب دلته پرنگيان دي چې د پوټکي رنگ يې سپين دی. وگورئ دا تشبيه گانې څومره ښکلي دي. وايي گناه په هاغو لومړيو ځلونو کې خپل مرتکب سمدلاسه خبروي او هغه پښېمانه کوي، خو که تکرار شوه نور به نو هاغه اغېز ونلري او پښېماني به ورو ورو ورکه شي.

چون کند اصرار و بد پيشه کند خاک اندر چشم انديشه کند

توبه نينديشد دگر شيرين شود بر دلش آن جرم تا بی‌دين شود

آن پشيمانی و يارب رفت ازو شِست بر آيينه زنگ پنج تو

که وغواړي بدي خپله دنده وگرځوي او په گناه تل پاتېتوب وکړي او توبه ونکړي، بله گناه به له هغې وروسته ورته خوږه شي، نوره به توبه ونکړي. او تر دې کچې به گناه وکړي چې په پای کې به همدغه لامل شي چې دين څنډې ته کېږدي او بې دين شي.

آن پشيمانی و يارب رفت ازو شِست بر آيينه زنگ پنج تو

آهنش را زنگ‌ها خوردن گرفت گوهرش را زنگ کم کردن گرفت

يعنې نور د هغه د روح پر هنداره د زنگ پنځه طبقې ناستې دي او قشر د بل قشر پر مخ د هغه د روح خوراک شوی دی.او په دې ترتيب د هغه د وجود گوهر په ترتيب او ورو ورو له منځه ځي.

قرآن هم اتفاقاً مورږ ته دهمدې يادونه کوي: كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ. [مطففين ۱۴] داسې نه ده [چې ددوی دا انکار له علمي څېړنو راولاړ شوی وي]، بلکې ددوی د [ ناوړه ] کړنو اغېز ددوی په زړونو دا ډول زنګ لګولی [ چې د حقيقت نور يې زړونو ته نه ورننوځي ]. زړونو يې د هغوی د خپلو کړنو او لاسته راوړنو له لامله زنګ او خيرې نېولې او نه شي کولی د حقيقتونو نور ووينې. اوس په دې آيت کې هم همدا وايې: كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ که هغه بيا هم خپل ناوړه کار ته دوام ورکړي او تم نه شي او په پای کې توبه ونکړي، د هغه پر زړه به توروالي واچوو: لَنَسْفَعًا نَاصِيَه. دا تعبيرونه ټول د تشبيه له بابه دي. يعنې دداسې يو سړي د زړه هنداره داسې توريږي او غبار او دوړې نيسي چې د هغه ناصيه، او په حقيقت کې د هغه شخصيت، [ چې په اوسنی علمي اصطلاح کې د وګړي د مغز په کُرتېکس کې ځای لري او د هغه د شخصيت ټولې ځانګړتياوې د مغزله دغې برخې جوړوي ] د پوهې او د حقيقتونو د منلو ورتيا له لاسه ورکوي. او کوم تندی او ناصيه؟ نَاصِيَه كَاذِبَه خَاطِئَه. هغه تندی او اند چې پرله پسې تکذيب کوي، حق دروغ ګڼي او له خطاکاريو او ناسمو کړنو لاس نه اخلي. او د همدغه تکذيب او خطا د تکرار له اغېزه يې شخصيت او تصميم نېوونکی اند او ذهن نور تور او تياره شوی دی او حقيقتونه نهويني. دلته پاملرنه لازم ده چې قرآن وايي هغه دروغجن او خطاکار ناصيه. دا نه وايي د هاغه دروغجن ناصيه، بلکه قرآن تکذيب، دروغجن والی او خطاکاري، ناصيه ته نسبت ورکوي او وايي: دا دروغجن خطاکار ناصيه. يعنې د دروغو او خطاکارۍ ټولې نښې، نښانې او علامې له دغه ناصيه څرګندې او ښکاره دي.

---

۸ ـ داسې بريښي چې «ناصيه» تندی دی، د قرآن په تعبير، د ټولو ژوو تندی د خدای په لاس کې دی [هود ۵۶ (۱۱:۵۶)]. داسې ښکاري چې ناصيه د موجوداتو مغز ته مجازي اشاره وي چې د بولندووی او فرمان ورکوونکي نقش او رول لري. اتفاقاً د انسان د شخصيت او تصميم نېولو برخه د تندي تر شا په «کورتېکس» [Cerebral Cortex] کې ده! پر دې بنا «اخذ بالناصيه» [د ناصيه = تندی، له لامله د انسان کيفر، تنبيه او مؤاخذه] چې په پورتني آيت او د رحمن سورت ۴۱ آيت (۴۱:۵۵) کې راغلی دی، بايد د انسان عمدي خطاګانو او شخصيتي عيبونو ته اشاره وي [والله اعلم].
د سورةالرحمن د ۴۱ آيت پر بنسټ به قيامت کې له تندي سره [په فکر سره د تصميمونو او پرېکړو] او د هغوی پر ګامونو[عملي کړنو] تر مؤاخذې او پوښتنې لاندې نېول کيږي [يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ]

فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ﴿۱۷﴾

[اوس که رښتيا وايي] نو د خپلې اکاړې ملګري دې [د ملاتړ لپاره] راوبلي،

سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ﴿۱۸﴾

موږ هم د سختې جزا پرښتې رابلو . (۹)

---

فَلْيَدْعُ نَادِيَه. نو پرېږده چې خپله «ناديه» راوبولي او خبره کړي. «ناديه» يعنې انډيوال، هم ليکی، سره په يوه ليکه او مل، د يوې اکاړې ملګري. په هاغه وخت کې چې دا آيتونه نازل شول مسلمانان ډېر لږه کي ول او پر مکه د قريشو مشرکانو واکمني وه هلته هغوی په قبيله اي توګه ژوند کاوه او د واکمنۍ طرز يې اشرافي ـ ارېستوکراسي وو؛ نه فردي وو او نه جمهوري او نه سلطنت. د قبيلو د مشرانو او اشرافيانو يو مجلس يې درلود چې هغه ته به يې «دارالندوه» ويل. چې د مشرانو د مجلس حيثيت يې درلود؛ يعنې رئيسان او مشران به هلته يو ځای کېدل او ټوليز تصميمونه به هلته نېول کېدل او د مکې ټول ښار د هغو په منلو مجبور ول. قبيله اي ژوند وو. د مکې ټول اشرافي او سياسي ځواک په هماغه شورا کې متمرکز وو.

«نادي» يعنې مجلس. دلته قرآن وايي: فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ د ابو جهل او دده په څېر د نورو اتکاء په هماغه «نادي» وه. «ندوه» او «نادي» له يوې ريښې دي. په دې آيت کې «ناديه» يعنې هماغه دارالندوه يې؛ يعنې دا شخص چې په دې کچه يې د مکې د هاغه سياسي ځواک په مرکز تکيه ده [ډېر ژر به شديد ټکان وخوري] ابوجهل پخپله ددغه مجلس غړی او د رأی او نظر خاوند وو بلکه د وتلو رئيسانو له ډلې څخه وو، معمولاً په هر مجلس کې چې څو کسان برجسته او برلاسي وي نور پر خپل محور څرخوي په واقعيت کې ټول ځواک په همدوی کې متمرکز کيږي. ابوجهل او ابوسفيان او څو نور کسان له رئيسانو په واقعيت کې اصلي ځواک وو.

قرآن غواړي ووايي د ځواک دا مرکز به ويجاړ شي. او هر څه به له منځه ولاړشي که څه هم دا ډله راټوله ښکاري. هغه طغيان کړې قطره، نورې طغيان کړې قطرې، چې هغوی هم پر هماغو قوانينو محکومې دي، کولی شي راوبولي. «فليدع نادية»، خو څه فايده چې دا راټولې شوې قطرې [ناديه] د لمر د سوځوونکو وړانګو په څرګندېدو ډېر ژر له منځه ځي«سندع الزبانيه».

اوس چې طاغي له خپلو دروغو، فرېبونو او خطاکاريو سره هر قيد او بند او د تکيه مرکزونه له منځه يوړل او د انسانيت څېره يې بدله او بل منګ شوله او د سقوط او غورځېدا پر لور وشړل شو، ملګري، او ياران او «ناديه» مجلس او د اکاړې ملګري دې راوبولي! او له هغوی دې مرسته او ملتيا وغواړي! نه يوازې ځانله به يې پرېږدي او د مرستې او ملتيا وس يې نه لري

بلکې له هغه څخه لېرې والی لټوي او ځان ترې مبرا ګڼي موږ هم ډېر ژر خپل هوښيار، فرمان وړونکي، تسليم او په سختۍ نيوونکي مأموران او د جزا عملي کوونکي «الزبانيه» رابولو او هغوی ته فرمان ورکوو. سمدلاسه د غرور او طغيان له خوبه راوېښيږي. خو څه فايده، نور څه ځواک! او کوم مقاومت! د سندع تعبير، ګواکې دې حقيقت ته اشاره لري چې د نهايت طغيان وروسته چې نوره د ستنېدو لاره او د توبې دړه وتړل شوه او د طاغي دوسيه بشپړه شوه سخت او ځواکمن مأمورين «الزبانيه» په حرکت راځي او له هر لور يې نيسي. دلته په اصل کې د زبانيه لفظ استعمال شوی دی چې د عربو په اصطلاح پوليسو يا څارندوی ته ويل کېږي – او د زبن اصلي معنا د ټېل وهلو او دکه کولو په معنا دی.

هغه مهال چې د چا وجود له سره تر پښو خراب او فاسد شوی وي، آيا څوک کولی شي د هغه لپاره کوم کار وکړي؟ سمدم لکه د هغه چا په څېر چې په سرطان اخته شوی وي او ناروغۍ يې ټول غړي فاسد کړي دي. ښه، نو دا خو ښکاره ده چې نور څوک نه شي کولی د هغه مرستې ته ورسېږي خبره د انسان د فطرت، طبيعت او ختې په بل منګ او بل ډول کېدو ده. فَلْيَدْعُ نَادِيَه. سَنَدْعُ الزَّبَانِيَه.«زَّبَانِيَه» يعنې مأموران؛ هغه کسان چې په جهان کې د الهي نظام عملي کوونکي دي. په اصطلاح د انسان نيوونکي ځواکونه. يا که په بل عبارت ووايو د اور مأموران. نه پوهيږم، کېدی شي دا مختلفي معناګانې ورته ذکر شي. خو هره معنا چې ترې واخلو، مطلب دادی چې د انسان د خپل عمل او کړنو پايله ده چې پرې اخته کېږي.

---

۹ ـ هغه قطره چې د درياب لور ته له حرکت سره په مخالفت کې بله قطره له تګ څخه منع کوي [أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى]،سره لدې چې هاغې قطرې د موخې او مقصد پر لور مخه کړې وي[عَبْدًا إِذَا صَلَّى]؛څه ډول هغه منع کوي؛ څه به شوي وای که پر خپل ژوند ښښونکي بهير وي [أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ عَلَى الْهُدَى] يا نورو قطرو ته د بهير پر محور او چورليز د ځان ساتنې [تقوی] توصيه وکړي [أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَى].شخص طغيان او سرغړونه کړې پر خپله طبعه، همدا راز د سرتنبګۍ او ځېل له مخې، د رود له بهيره انکار او ځان غړونه کوي [أَرَأَيْتَ إِنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّى]،له دې غافل چې د دې حرکتونو جريان ورکوونکی، هغوی چې له خپله اصله لېرې پاتې شوي دي، ويني. [أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَى] او که له طغيان او سرغړونې لاس وانخلي، د خپلو قاهرو قوانينو په توسه يې هغه ځای ته چې ښايي کشوي [كَلَّا لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ]، له تګ څخه د نورو منع کول او د هغوی فريب «کذب» دی او د ځان او نورو څنګ ته کول او بې لارې کول «خطا»، [نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ]. کېدی شي نورې طغيان کړې قطرې، چې همدغو قوانينو ته محکومې دي، وبولي [فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ]،خو څه ګټه چې د لمر له سوځوونکو وړانګو سره ډېر ژر له منځه ځي[سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ].

كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ﴿۱۹﴾

هيڅکله داسې نه ده [چې وکړای شي له هغه سره ملتيا وکړي]،له هغه اطاعت مه کوه، بلکې سجده وکړه(۱۰)[=حق ته تسليم او د الله په خدمت کې اوسه]چې هغه ته نژدې شې

---

كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ. د سورت په پای کې، وحی ته مخاطب پيغمبر ته، يا هر هاغه مخاطب ته چې دا پيغام مومي، فرمان ورکول کيږي، چې د څنګ ته شوي «طاغي» خبرې ته په بې اعتنائي او نافرمانۍ سره، له يوه سره د حق بهير او جريان ته تسليم اوسي او موخې او مقصد ته نژدې شي:«کلا لا تطعه و اسجدو اقترب».

دغې وروستني آيت، د پيغمبر لپاره له دريو پيغامونو سره خبره بشپړه کړې ده.

لومړی: لَا تُطِعْهُ، پلیوني ترې مه کوه. نه وايي سرکوب يې کړه، يا پلار يې تباه کړه، يا تنبيه يې کړه. نه،. يوازې له هغوی اطاعت او پيروي مه کوه. هغوی آزاد دي. پرېږده يې هره لار چې غوره کوي. ستا لار له دغو طغيانګرو وګړو، چې د خلکو په ربړ او آزار پسې دي، بېله ده او له هغوی سره مقابله او همغاړه کېدل لکه د ابوجهل او مغيره بن شعبه او د عربو د طايفو له ټولو مشرانو سره، له هغو کسانو سره چې د «عبس» په سورت کې يې ذکر شوی بې ګټې دی.

پوهيږو چې پيغمبر هغوی راټول کړي ول چې له هغوی سره خبرې وکړي او هڅه يې کوله په هر ترتيب چې شوي وي لارې ته يې راولي. البته د هغوی زړه دې خبرو ته نه وو. خو پيغمبر، طبعاً غوښتل د مشرکانو له مخالفت څخه د مخنيوي لپاره، له هغوی سره يوې پريکړې ته ورسيږي. خو الله تعالی په قاطعانه توګه فرمان ورکوي چې: لَا تُطِعْهُ، ته په خپله لار لاړ شه او له هغوی اطاعت مه کوه، د هغوی له کار سره څه کار مه لره او په خپل حال يې پرېږده.

دوهم؛ وَاسْجُدْ. د سجدې څخه موخه چې ظاهراً د لمانځه سجده ښکاري خو په حقيقت او د کليمې په باطن کې، الهي مشيّت ته د مطلق تسليم انځور دی مطلب دا نه دی چې سجده وکړه يا نمونځ اداء کړه. په قرآن کې په ځلونو ځلونو څرګند شوي دي چې هر هغه څه چې د هستۍ په جهان کې دي الله ته سجده کوي. سپوږمۍ او لمر د الله سجده کوي. ونې الله ته سجده کوي. اصلاً داسې کوم څيز په هستۍ کې شتون نه لري چې الله ته سجده کوونکی نه وي. نو، سجده يوازې پر ځمکه د تندي ايښودلو په معنا نه ده. الله چې پرښتو ته فرمان ورکړ آدم ته سجده وکړي، له هغوی يې نه دي غوښتي چې د آدم پر وړاندي تندی پر

خاورو کښېږدي. پرښتې خو تندی نه لري. سجده او سجود یعني په اصل کې خپل ځان د یو چا یا یو څیز په خدمت کې ګومارل دي؛ له یوه سیستم سره هم آهنګ او هم غږي کېدل او خپل ځان د هغه په اختیار کې ورکول دي. د مثال په توګه دیو ې کارخونې کاریګر هماغه دنده چې هلته یې سرته رسوي، او مثلاً یو پېچ تاووي، همدا د هغه سجده ده. دا کارخوني ته د هغه سجده ده. موږ ټول او په ټوله کې هر یو موجود په جهان کې یو نقش سرته رسوي، که په سمه او بشپړه توګه هغه سرته ورسوي همدا یې سجده ده. نو، پیغمبر ته د الله دا فرمان دی چې د هغوی له اطاعته سرغړونه وکړه او زما لورته مخه وکړه. یعني الهي نظام او سیستم ته وارد شه او خدمت وکړه. که داسې وکړې نو څه به وشي؟

دریم؛ وَاقْتَرِبْ. نږدې شه . هغوی چې له تا سره مخالفت لري طغیانګر دي او د حق له لارې څنګ کیږي هغوی پرېږده ، خو ته حق تسلیم اوسه ، او خپل ځان په هغه مسیر او تګلاره برابر کړه چې تاته د نهایي حقیقت پر لور لارښود شي.

هوکې، دا سورت لکه څنګه چې مخکې مو وویل یو ډېر مهم سورت دی او پیغامونه یې هم پنځه موضوع ګاڼې دي چې توضیح شوي دي او همدا رنګه ومو ویل چې د ربوبیت او ربّ بحث په دې سورت کې ډېر اساسي دی. «ربّ» چې و مو ویل په پښتو کې خاوند، ښښتن، خدای او خداوند دقیقاً د ربّ په معنا دي او موږ په تېروتنه هغه د «الله» د لفظ معادل ګڼو.

سعدي وایي:

یکی بر سر شاخ بن می‌برید خداوند بستان نظر کرد و دید

«خداوند بستان» یعنې د باغ خاوند، د باغ ارباب.

یا: نه بر اشتری سوارم، نه چو خر به زیر بارم نه خداوند رعیت، نه غلام شهریارم

«خداوند رعیت» یعني د کلي ارباب. لکه «کدخدا»، کدخدا هم هماغه د کلي ارباب دی چې هغه ته «دهخدا» هم وایي. په پخوانۍ پارسي کې، هغه چاته چې ارباب وو «خدا» یا «خداوند» ویل کېده. چې په پښتو کې ورته خاوند ویل کیږي وسمهال موږ د الله د کلیمې ژباړه په «خدا» یا «خدای» کوو، په داسې حال کې چې خدا د رب ترجمه ده. په انګلیسي ژبه کې هم «ربّ» په «لُرد» Lord یا «سینیور» Senior ترجمه کوي، چې معلومیږي ددې کلیمې په معنا سم پوهېدلي دي. په منځنیو پېړیو کې او د اروپا دفیوډالیزم په دوران کې، به یې اربابانو او مالکانو ته لُرد ویل، یعنې هغه څوک چې د اختیار خاوند دی او ټول باید د هغه تر فرمان لاندې کاروکړي. د «الله» کلیمه بله معنا لري او د هغه په مفهوم کې یو ډول عشق،

مينه، زړه بايلنه شامله او څرګنده ده؛ يعنې د الله په نسبت پر عشق دلالت کوي او يوازې له رئيس او ارباب سره اړيکې لرل ترې نه مفهوم کېږي. ډېرى خلک کېدى شي الله ومني، خو هيڅ دين يې نه وي منلى او د الله په وړاندې د خپل ځان لپاره په کوم مسئوليت قايل نه شي. اصلاً دا نه مني چې الله به له هغوى کوم انتظار هم ولري. داسې کسانو بې له شکه د «ربوبيّت» مفهوم نه دى درک کړى، او که نه خپل ځان هرومرو د هغه «مربوب» ګڼي. د «ربوبيّت» په مفهوم کې، «ربّ او «مربوب» هر دواړه پټ دي. په ځلونو مو ويلى چې په قرآن کې په هر ځاى کې «ربّ» له ضمير سره يا د مضاف او مضاف اليه په بڼه راغلى دى. يعنې موږ په پرله پسې توګه د ربّ تر ربوبيّت او تربيّت لاندې قرار لرو او هغه تل موږ ته د فيض او برکت لورينه کوي. او دا ډېره مهمه نکته ده.

« د کميل په دعا کې» حضرت علي په پرله پسې توګه عرض کوي: يا ربِّ، يا ربِّ، يا ربِّ، د «ربِّ» کسره د «ى» د ضمير پر ځاى ده. يعنى «يا ربّى»: اى زما پروردګاره. اى زما پالونکيه. اى زما څښتنه. يا عرض کوي: يا اِلهى و سيّدى و مولاى. په دې غبرونو کې الله په هاغو صفتونو بلل شوى دى چې د انسان او نورو موجوداتو په نسبت د هغه د «ربوبيّت» سره اړيکه لري. د «علق» په سورت کې هم چې د هستۍ له مبدأ او سرچينې څخه د پيغمبر د پېژندنې لومړنى تجربه ده، مناسبترينه کليمه او ډېر نژدې تعبير چې الله د هغې په توسه خپل ځان پيغمبر ته معرفي کړي، د «رب» کليمه ده.

او وروستۍ خبره دا چې هغه پنځه موضوع ګانې چې د پنځو لومړنيو آيتونو په ترڅ کې بيان شوي دي، يعنې انسانيت، تخليق، لوستل، قلم او علم، په بشپړه توګه د هاغې زمانې د قومونو د ډېريو د ورځني ژوند له مسئلو او بوختياو سره په بشپړه توګه توپير درلود. نو، که پيغمبر مثلاً د څواک موندلو پسې واى او د رياست موخه يې درلودلاى، داسې څيزونه به يې ويلى واى چې د هغه د خپل ذهن زيږنده واى. مثلاً له ګاونډيو او نورو طايفوسره د عربو قبيلو د مسئلو په اړه به يې ويلي واى، په دې آيتونو کې د عربستان د خلکو له ستونزو څخه يوه خبره، او ان تر دې چې له ولس دوستو احساساتو څخه يوه خبره هم نه شته، هغه هم په داسې يو ځاى کې چې خلکو يې په فقر او لوږه کې ژوند کاوه او د نورو قومونو تر ذلت او اسارت لاندې ول. حتا دا هم نه وايي چې دا د وحى خبري دي. دا لومړني آيتونه، له احساسي مسئلو پورته دي او په ښکاره توګه څرګندوي چې دا خبرې د راتلونکو لپاره دي.

په پنځو لومړنيو آيتونو کې دوه ځله د «انسان»نوم اخېستل شوى دى او دوه ځله هم د «ربّ» نوم، د قبيلې او قريشو او د عربو د قومونو او د دوست او دښمن له طايفو او نژاد او ژبې له

ذکر پرته، هغه هم د بيديا او سارا د يوه نالوستي له ژبې. دا په واقعيت کې له جهاني ليد او په جهاني سطحه له خبرې کړنې پرته نور څه نه دي او په يوه ټاکلي او مشخص مکان او زمان پورې اړه نه لري. د ا د بشر تلپاتې او جاودانه مسئلې دي. کلي ترينې او تولیزې مسئلې دي چې د نن ورځې انسان ته هم مطرح دي. حتا د لرغوني يونان له منطق او فلسفې سره او د هاغې زمانې په اکاډيميو کې د مطرحو مسئلو سره، او حتا له فقې او حقوقو سره چې زموږ د ذهنيتونو پر بنسټ بنا شوي، په بشپړه توګه توپير لري نو پر دې بنا، د وحی په لومړني پيغام کي بايد پاملرنه وشي چې په کومو شرايطو او په کومه زمانه کې له چا سره الله تعالى هغه مطرح کړی دی، چې په غالب ګومان دا مسئله د قرآن د معجزه توب او اسماني والي له لاملونو څخه يوه ده. او دا چې د وحی پيغام د پيغمبر په فکري، فرهنګي او اقليمي افق کې نازل شوی نه دی چې وويل شي د وحی ظاهري صورت او بڼه، يعنې د قرآن الفاظ د پيغمبر له خپله ځانه دي، بلکې دا جوتيږي چې د الله له لور نازل شوي آيتونه دي. صدق الله العليّ العظيم.

---

۱۰ ـ د سجدې معنا په [كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ] سره ددې چې ظاهراً د لمانځه سجده ده، خو په حقيقت او د کليمې په باطن کې، الهي مشيّت ته د مطلق تسليم انځور دی چې د حق پر درشل سر ايښوول پر ځمکه له سجدې کولو سره بنوول کيږي، او که نه د غره او دښتې او درياب او ونې او د ټولو موجوداتو سجده، لکه څنګه چې د قرآن په ډېرو آيتونو کې بيان شوې ده، الله ته او د حق نظامونو ته له هماغه تسليم پرته بل هيڅ څيز نه دی.

مولوي د «ترې او ديوال» په قصه کې له سجدې سره د تسليم اړيکه په څه ښکلې بڼه بيان کړې ده [دويم دفتر د ۱۱۹۷ بيتونو څخه وروسته]:


| | |
|---|---|
| سجده آمد کندن خشت لَزِب | موجب قربى که «وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ» |
| تا که اين ديوار عالي گردن است | مانع اين سر فرود آوردن است |
| سجده نتوان کرد بر آب حيات | تا نيابم زين تنِ خاکی نجات |
| بر سر ديوار هر کاو تشنه تر | زودتر بر مى کند خشت و مَدَر |
| هر که عاشق تر بود بر بانگ آب | او کلوخ زَفت تر کَند از حجاب |

---

**يادونه:** ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته مراجعه شوې ده:


۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان ليکنه
۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضى مطهري ليکنه
۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب ليکنه

۴ ـ تفهیم القرآن ـ د سید ابوالاعلی مودودي لیکنه
۵ ـ قرآن حکیم [ترجمه و توضیحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرګان
۶ ـ المیزان في تفسیرالقرآن ـ د سید محمدحسین طباطبائي لیکنه
۷ ـ کابلي تفسیر [قرآن کریم ترجمه او تفسیر ـ مولانا محمود الحسن دیوبندي
او علامه شبیر احمد عثماني] پښتو کوونکي : د عالمانو یوه ډله
۸ ـ پرتوی از قرآن ـ د سید محمود طالقاني لیکنه
۹ ـ تفسیر نمونه ـ د آیت الله مکارم شیرازي لیکنه
۱۰ ـ تفسیر نور ـ د مصطفی خرمدل لیکنه
۱۱ ـ تابشې از قرآن ـ د سید ابوالفضل ابن الرضا برقعي لیکنه
۱۲ ـ تفسیر باران ـ د دکتور مهدي خُدّامیان آراني لیکنه
۱۲ ـ ترجمه تفسیر طبري ـ به اهتمام و تصحیح حبیب یغمائی
۱۳ ـ تفسیر ابن کثیر [حافظ عمادالدین ابوالفدا اسمعیل بن عمر ابن کثیر الدمشقي]
اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي
۱۴ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفیع لیکنه
۱۵ ـ تفسیر مصباحین (اردو) ترجمه و شرح تفسیر جلالین ـ لیکونکي : جلال الدین محلي او
جلال الدین سیوطی ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لیاقت علي رضوي
۱۶ ـ تفسیر کمالین د جلالین تفسیر اردو شرح ـ شرح د : مولانا محمد نعیم دیوبندی
۱۷ ـ د قرآن عظیم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي کشاف الدین کشاف
۱۸ ـ عزیزالتفاسیر ـ د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر ـ مولوي سلطان عزیز (عزیز)
۱۹ ـ صفوةالتفاسیر ـ د محمدعلي الصابوني لیکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
۲۰ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدین حکمتیار لیکنه
۲۱ ـ تفسیر دېوبندي ـ د مولوي عبدالحنان لیکنه
۲۲ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امین الله پېښاوری لیکنه
۲۳ ـ تفسیر ایوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبیدالله ایوبي لیکنه
۲۴ ـ تفسیر احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي لیکنه
۲۵ ـ قرآن کریم په پښتو ـ د اجرالدین اقبال ژباړه
۲۶ ـ قرآن مجید ، تکامل و خلقت انسان ـ دوکتور یدالله سحابي
۲۷ شرحې بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرګان ـ د عبدالعلي بازرګان وېب پاڼه [bazargan.com]
۲۸ ـ د ددې لیکنې په پای کې انځورونه له ګوګل څخه اخېستل شوي دي.





## لومړی انځور


# خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ


انسان يې له علق [ځوړندي نطفې] پيدا کړ.


علق


Spermatozoid


















علق

Spermatozoid




## اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ


ولوله د خپل رب [پالونکي څښتن] په نامه، هاغه چې [هر څه يې شته کړل او] و يې پنځول


**انسان يې له علق [ځوړندي نطفې] څخه پيدا کړ.**


## دویم انځور

إِنِّي تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمْ مَا مِنْ دَابَّةٍ إِلَّا هُوَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا ...

ما پر هاغه الله توکل کړی دی، چې زما او ستا، پالونکی څښتن [او واکمن] دی داسې. هیڅ خوځنده نشته مګر دا چې تندی [=دچارو واګې] يې د هغه [الله] په لاس کې دي




يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ.

مجرمان له خپلو څیرو [او بڼو] پېژندل کیږي او په تندي او ګامونو [=نیتونو او کړنو یې] نیول کیږي

Functional Areas of the Cerebral Cortex

د ماغزو د قشر د مخکینۍ برخې فعالي ساحې

كَلَّا لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ

هېڅکله داسې نه ده [چې دا بې لارې له جزا پرته وي]، که لاس وانخلي، د هغه د ذلت په تندي به يې را کاږو.

[هماغه] دروغجن ورانکار تندی!